# اولدوز او کارغان



صمد بهرنگی

Ketabton.com

ژباړه: م.ف. ناساز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اولدوز او کارغان

صمد بهرنگي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاظم – د ماشومانو دوست –

او

روح انگیز ته، چې موږ ته ښه ماشومان

وروزي.

په دې هیله، چې په غټوالي کې یې ژوند زموږ نه

ښه وي.

**ب**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اولدوز او کارغان**

صمد بهرنگی

ژباړه:م.ف.ناساز

سمون:ویاړ

برېښنايي خپرېدنه او بیاکتنه: چنګاښ ۱۴۰۳

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک


د اولدوز څو خبرې ........................................ ۱
د کارغانو د مور پیدا کېدل ........................................ ۳
«ښاغلی کارغه» وپېژنو ........................................ ۸
خوندورې غمې ........................................ ۱۲
د کب پر سر شورماشور او د کارغه د مور د اعدام حکم ........................................ ۱۵
د کارغه مور په ډېرو شیانو پوهېږي او له مرګه نه ډارېږي ........................................ ۱۷
له «یاشار» سره لنډ ملاقات ........................................ ۱۹
د کارغانو د مور اعدام ........................................ ۲۱
د اولدوز پرېشانه خوب ........................................ ۲۲
د ښاغلي کارغه د زړه خواله او د کارغه د مور د نیول کېدو څرنګوالی ........................................ ۲٤
کور قرنطین کېږي ........................................ ۲۹
د خپګان او اندېښنې، د ولړې او ډار ورځې ........................................ ۳۱
د ښاغلي کارغه د آزادولو پلان ........................................ ۳۳
له زندان څخه د ښاغلي کارغه د آزادۍ لپاره قتل ........................................ ۳۵
هوښیار ماشومان، ناپوه پلار او میندې تېر باسي ........................................ ۳۹
واوره، ساړه، بېکاري او انتظار ........................................ ٤۳
نذر او سوالونه د مړینې مخه نشي نیولای، د کارغه د مور یاد ........................................ ٤٦
سخت ژمی تېرېږي ........................................ ٤۷
د پسرلي هوا ........................................ ٤۸
څوك د کارغانو په ژبه پوهېږي؟ ........................................ ٤۹
د کارغانو راستنېدنه ........................................ ۵۱
د تېښتې قرار، تېښته د بېرته راستنېدو د پاره ........................................ ۵٤
«انا» د تېښتې لار او طریقه ښيئ ........................................ ۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارغان کوښښ کوي، ماشومان سخت زيار باسي، کارونه پر مخ ځي.......... ۵۹
د اولدوز د سفر ملگرى ........................................................... ۶۱
د کبانو غله، د وړيو غله، بې اغېزه دعاگانې ..................................... ۶۳
ياشار له موره اجازه اخلي........................................................... ۶۵
د حرکت ورځ ........................................................................ ۶۸
هغوى چې له زړونو خبر نه دي، وايي: اولدوز لېونې شوې ده .................. ۶۹
ښه او مهربانه مور ................................................................. ۷۰
حرکت ................................................................................ ۷۱
د شهيدو او ناکامو ملگرو په ياد، چوشکونه لېرې وغورځوئ!.................. ۷۵
د هاغه غرونو پر سر، د کارغانو ښار، غرمېشته کارغان ......................... ۷۷
د ملگرو ليك ........................................................................ ۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اولدوز څو خبرې

ماشومانو،سلام! زما نوم اولدوز دی. مانا یې ده ستوری. سږکال مې لس کاله پوره شو. دا کیسه چې لولی زما د سرګذشت یوه برخه ده. ښاغلی«بهرنګ» یو وخت زموږ د کلي ښوونکی و. زموږ په کور کې اوسېده. یوه ورځ ما ورته خپل سرګذشت ووایو. د ښاغلي «بهرنګ» خوښ شو او وې ویل: که اجازه راکړې، ستا او د کارغانو پر سرګذشت به کیسه ولیکم او کتاب به ترې جوړ کړم. ما ومنله خو په څو شرطونو: لومړی دا چې زما کیسه یوازې ماشومانو دپاره ولیکي، ځکه چې د لویانو حواس دومره ګډوډ دي، چې زما په کیسه نه پوهیږي او خوند ترې نه اخلي. دوهم دا چې، زما کیسه هغو ماشومانو د پاره ولیکي، چې یا غریب وي او یا هم ډېر نازولي نه وي. نو، لاندېنې ماشومان حق نلري زما کیسې ووایي:

۱- هغه ماشومان، چې له نوکر سره ښوونځي ته راځي. ۲ – هغه ماشومان، چې په ګران بیه موټرونو کې ښوونځي ته راځي. ښاغلی «بهرنګ» ویل، چې په غټو ښارونو کې شتمن ماشومان همداسې کوي او پر ځان ډېر نازېږي.

دا هم باید ووایم چې تر اووه کلنۍ پورې له مېږې سره وم. دا کیسه هم د هاغه وخت ده. خپله مور مې په کلي کې وه. پلار مې طلاقه کړی وه. د پلار کور ته یې شړلې وه او بله ښځه یې کړې وه. پلار مې په یو دفتر کې کار کاوه. هاغه وخت موږ په ښار کې ژوند کاوه، چې یو کوچنی ښار وو او لا یې یوازې یو واټ درلود. له څو کالو وروسته زه هم کلي ته لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر حال، ښاغلي «بهرنګ» قول راکړ، چې له دې وروسته زما د غمې نانځکې کيسه وليکي. هيله من يم چې زما له سرګذشت نه ډېر څه زده کړی.

**ستاسو ملګرې - اولدوز**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کارغانو د مور پیدا کېدل

اولدوز په کوټه کې ناسته وه. بهر ته یې کتل. مېره یې حمام ته تللې وه. ور یې قلف کړی وو. اولدوز ته یې ویلي وو، چې له ځایه ونه ښوري. که نه، نو راځي او پلار ته یې وایي. اولدوز په کوټه کې ناسته وه. کتل یې. فکر یې کاوه. د غټانو په شان په فکر کې وه، نه ښوربېده. د مېرې نه ډېره ډارېده. د نانځکې په فکر کې هم وه. نانځکه یې نوې ورکه کړې وه. زړه یې دومره خپه وو، چې د ویلو نه دی. څو کرتی یې ګوتې وشمېرلې. وروسته د کړکۍ خوا ته راغله. حوصله یې بایللې وه. ناڅاپه یې ولید، چې یو تور کارغه د حوض په غاړه ناست دی، اوبه څښي. یوازیتا یې هېره شوه. زړه یې خلاص شو. کارغه سر راپورته کړ. سترګې یې په اولدوز ولګېدې. غوښتل یې والوزي. اولدوز فکر وکړ چې کارغه خاندي. خوشاله شوه. ورته یې وویل:ښاغلی کارغه، د حوض اوبه چټلې دي، که ویې څښې ناروغه به شې.

کارغه بیا وخندل او ټوپ یې کړ او رامخ ته شو. وې ویل: نه زړګیه! مور، کارغانو ته فرق نه کوي. له دې نه ډېر ناولي شیان خورو او هیڅ راباندې نه کیږي. بله دا چې ما ته «ښاغلی کارغه» مه وایه. زه ښځه یم. څلور اولاده لرم. ما ته د «کارغه مور» وایه.

اولدوز پوه نشوه، چې د کارغه کوم ځای ښځې ته پاتې کیږي. دومره مهربانه وه، چې اولدوز غوښتل ویې نیسي او مچ یې کړي. سمه ده چې کارغه ښکلی نه و، بدرنګه هم و، خو مهربانه زړه یې درلود. که لږ مخې ته راغلی وی، اولدوز نیولو او مچوی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارغانو مور بیا هم مخې ته راغله او وې ویل: ستا څه نوم دی؟

اولدوز ورته خپل نوم ووایه. بیا د کارغه مور پوښتنه وکړه: اوس ته څه کار کوې؟

اولدوز وویل: هیڅ، مېرې مې دلته پرېښې یم او تللې حمام ته. ویلي، و نه ښورېږم.

د کارغه مور وویل: ته خو د لویانو په شان فکر کوې. ولې لوبې نه کوې؟

اولدوز د خپلې غټې نانځکې په فکر کې شوه. اسوېلې وکړ. بیا یې کړکۍ خلاصه کړه، چې غبر یې بهر ته ووځي او وې ویل: د کارغه مورې، څه نه لرم چې لوبې ورباندې وکړم. یوه غټه نانځکه مې درلوده، چې ورکه شوه. نانځکې مې خبرې کولې.

د کارغه مور د سترګو اوښکې د ښانګ په څوکه پاکې کړې، ټوپ یې کړ او د کړکۍ په خوله کې کېناسته. اولدوز لومړی وډار شوه او څنډې ته شوه. بیا دومره خوشاله شوه چې څه به وایې او رامخې ته شوه. د کارغه مور وویل: ملګري او همزولي هم نه لرې؟

اولدوز وویل: «یاشار» شته. خو هغه هم اوس ډېر لږ وینم. ښوونځي ته ځي.

د کارغه مور وویل: راځه دواړه لوبې وکړو.

اولدوز د کارغانو مور په غېږ کې ونیوله. سر یې ورته مچ کړ. مخ یې ورته مچ کړ. بڼکې یې ځیرې وې. د کارغه مور پښې راټولې کړې وې، چې د اولدوز جامې ناولې نشي. اولدوز یې مښوکه هم ښکل کړه. مښوکې یې د صابون بوی کاوه. وې ویل: د کارغه مورې، ستا صابون ډېر خوښېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارغه مور وويل: په صابون پسې مرم.

اولدوز وويل: مېره مې په قهرېږي که نه، نو، يوه کلچه مې درته راوړله خوړلې به دې وی.

د کارغه مور وويل: پټ يې راوړه. مېره دې نه پوهېږي.

اولدوز وويل: ته نه ورځې ورته يې نه وايې؟

د کارغانو مور وويل: زه؟ زه د چا چغلي نه کوم.

اولدوز وويل: مېره مې وايي: «ته چې هر کار وکړې، کارغه راځي ماته يې وايي.»

د کارغه مور د زړه له کومې وخندل او وې ويل: درواغ واي زړگيه، زما دې په دې تور سر قسم وي، زه د چا چغلي نه کوم. اوبه څښل بهانه کوم، د حوض غاړې ته راځم. بيا صابون او کب غلا کوم او بېرته ځم.

اولدوز وويل: د کارغانو مورې، غلا ولې کوئ؟ گناه لري.

د کارغه مور وويل: زړگيه، مه ماشومه کېږه، گناه څه ته وايي؟ گناه خو دا ده چې غلا ونه کړم او زه او اولاد مې له ولږې مړه شوو. زړگيه گناه خو دا ده چې گېډه مړه نه کړم. گناه دا ده چې صابون د پښو لاندې پروت وي او زه وږې پاتې شم. زما دومره عمر شوی دی، چې په دې خبرو پوه شم. په دې هم ته پوه شه، چې په دې تشو نصيحتونو د غلا مخه نيول کېدای نشي او تر هغه چې هر څوك د ځان دپاره کار کوي، غلا به هم وي.

اولدوز غوښتل لاړه شي يوه چکۍ صابون غلا کړي او د کارغانو مور ته يې ورکړي. مېرې يې خوراکي شيان په الماری کې اېښودل او الماری به يې قلفوله، خو صابون به يې نه پټوه. د کارغه مور يې د دروازې غاړې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښوده او خپله پخلنځای ته لاړه. يوه چکۍ صابون يې واخيست او رايې وړ.

ماشومانو، بده ورځ په سترګو ونه وينئ! اولدوز وليد چې د کارغانو مور وتلې ده او مېره يې هم د کړکۍ خوا ته راروانه ده. د حمام کڅوړه يې په تخرګ کې نيولې ده. مخ يې تك سور وو. اولدوز ډېره بده ګيره شوې وه. مېرې يې له کړکۍ نه سر دننه کړ او چيغه يې کړه: اولدوز، بيا څه شوي چې کور لټې په لټې کوئ؟ درته مې نه وو ويلي و نه ښورېږې، ها؟

اولدوز څه ونه ويل: مېره يې لاړه، چې د ور قلف بېرته کړي او ننوځي. اولدوز په توندۍ صابون د کميس لاندې وواهه، په يوه ګوټ کې کېناسته. مېره يې ورننوتله او وې ويل: ووايه، څه پسې ګرځېدې؟

اولدوز يو دم وويل: مورې...ما مه وهه! په ورکې شوې نانځکې پسې مې ګرځېدم. مېرې يې د اولدوز نانځکه بدې شوه. د اولدوز غوږ يې ونيو او کش يې کړ او وې ويل: سل کرتې مې درته ويلي د ناولې نانځکې خيال دې له سره وباسه! پوهېږې؟

له هغې وروسته، مېره يې پخلنځای ته لاړه چې ځانته چای دم کړي. اولدوز ميتيازې بهانه کړې انګړ ته لاړه اخوا دېخوا يې وکتل، ويې ليد د کارغه مور په بلۍ ناسته ده، سترګې پر لار ده. صابون يې يووړ او د ګلانو او بوټو لاندې يې کېښود، د کارغه مور ته يې سترګه ووهله چې راشه صابون دې واخله. د کارغه مور ډېره په کراره راکوزه شوه او لاړه د ګلونو او بوټو منځ کې پټه شوه. اولدوز ورنه پوښتنه وکړه: د کارغه مورې، يو بچې دې راولئ چې ما سره لوبې وکړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارغه مور غلې وویل: له غرمې نه وروسته منتظره اوسه، که مېږه مې راضي شو، راولم يې. صابون يې پورته کړ، والوتله او لاړه.

اولدوز آسمان ته سترګې نیولې وې. کله چې کارغه لېرې ووت د خوشالۍ نه يې په ټوپونو شروع کړه، ګنې چې خبرې کوونکی نانځکه يې موندلې وي. ناڅاپه مېرې يې وربانديې چیغه کړه: جینې، ولې ګډېږې؟ دننه راشه، ګرمي دې وهي. زه دې د پالنې وس او حوصله نلرم.

د غرمې د ډوډۍ وخت وو. اولدوز راغله او په کوټه کې کېناسته. څو دقیقې وروسته يې پلار د دفتر نه راغی. حال يې خراب وو. د اولدوز د سلام ځواب يې هم ورنکړ. په ناپرېمنځلو لاسونو په دسترخوان کېناست او په خوړلو يې شروع کړه، لکه چې بیا د دفتر رئيس ورته څه ویلي وي. لږ پاتې وو، چې د سرو شو کچالانو بوي اولدوز بېهوشه کړي. د پلار خوړلو ته يې کتل او د خولې لاړې به يې تېرولې. نه يې شو کولای څه شی واخلي او ويې خوري. مېرې به يې تل ویل:کوچنیان حق نلري په خپله ځانته خواړه راواخلي. باید لویان ورته په لوښې کې خواړه واچوي او ويې خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## «ښاغلی کارغه» وپېژنو

د سنبلې میاشت وه، د غرمې ډوډۍ چې به يې وخوړله، پلار او مېرې ته به يې خوب ورتلو، بيده کېدل به. اولدوز هم مجبوره وه بيده شي. که نه، نو پلار يې ورته قار کولو، ويلی: کوچنيان بايد د غرمې ډوډۍ وخوري او بيده شي. اولدوز هېڅکله نه پوهېده چې ولې خامخا بيده شي. له ځان سره يې ويل:نن ورځ نشم بيدېدلای، که بيده شم د کارغه مور راځي، ما به ونه ويني، بچی به بېرته بوځي.

د کوټې په آخر کې وغزېده او ځان يې په بيدو کې واچاوه. کله چې پلار او مېره يې خوب يووړل، ورو ورو يې قدمونه اېښودل او بهر راووتله، د توت تر ونې لاندې سيورې ته کېناسته.درې کرتې يې گوتې شمېرلې وې چې کارغه راورسېد. لومړی په بلۍ کېناست، اولدوز ته يې وکتل. اولدوز ورته اشاره وکړه چې راکوزېدای شي. د کارغه مور راغله څنگ ته يې کېناسته. يو ښه وړوکی کارغه يې هم له ځان سره راوړی و. وې ويل: ډارېدم چې بيده به يې.

اولدوز وويل: هره ورځ بيدېدم. نن مې پلار او مېره بيده شول، خو زه بيده نشوم.

د کارغه مور وويل: آفرين، ښه کار دې کړی. بيدېدو ته لا وخت ډېر دی. که د ورځې بيده شی، نو د شپې به څه کوئ؟

اولدوز وويل:دا مې مېرې ته ووايه...وړوکی کارغه دې ماته راوړئ؟ څومره ښه دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارغه مور خپل بچی د اولدوز په لاس کې ورکړ. ډېر مینه اخیستونکی وو. ناڅاپه اولدوز اسوېلی وکړ. د کارغه مور وویل: ولې دې اسوېلی وکړ؟

اولدوز وویل: نانځکه مې رایاده شوه. کاشکې خوا ته مې وای، درې واړو به لوبې کولی.

د کارغه مور وویل: غم یې مه کوه. زما مشره لمسۍ په دې څو ورځو کې هګۍ اچوي او بچیان راوړي. یو به یې درته راوړم. دری تنه به شی.

اولدوز وویل: ته په خپله بل بچی نه لری؟

د کارغه مور وویل: ولې، لرم یې. دری نور هم لرم.

اولدوز وویل: نو ته یې راوړه.

د کارغه مور وویل: خو زه یوازې پاتې کېږم. د کارغانو پلار هم شته، اجازه نه راکوي. دا مې هم چې درته راوړی، تر اوسه خبرې نه کوي، په پښو ځي، الوتلای نشي. تر یوې اونۍ پورې به خبرې وکړي. دوه اونۍ وروسته الوتلای شي. پام کوه چې دوه اونۍ وروسته والوزي، که نه، نو بیا هېڅکله الوتلای نشي. یاد یې لره.

اولدوز وویل: که وانه الوزي، څه به وشي؟

د کارغانو مور وویل: ښکاره ده چې مري. پوهېږې چې کوم خواړه ورکړی؟

اولدوز وویل: نه، نه پوهېږم.

د کارغه مور وویل: د ورځې یوه ټوټه صابون، لږه غوښه او داسې نور. که کیبداې شوه، کله کله هم یو وړوکی کب. په حوض کې خو کبان ډېر لری. چینجي هم خوري، پنیر هم خوري.

اولدوز وویل: ډېر ښه.

د کارغه مور وویل: مېره دې اجازه درکوي چې ویې ساتی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولدوز وویل: نه، د مېرې سترګې مې په دې قسم شیانو بدې لګي، باید پټ یې کړم.

د کارغه بچی د اولدوز په لمن کې غورېده او خوله به یې وازوله.د دې د لاسو ګوتې به یې نیولې او رودلې به یې. وړې سترګې یې ځلېدلې. پښې یې نرې وې. لکه د اولدوز د ګوتو په شان، ښکې یې نرمې وې د مور د ښکو په شان ځیږې نه وې. د مور نه یې هم ښکلې وو.

د کارغه مور وویل: ښه، غواړې چېرته یې پټ کړی؟

اولدوز د دې فکر نه وکړی. په فکر کې لاړه چې چېرې یې پټولی شي. هېڅ چېرې.

وې ویل: د ګلانو او بوټو لاندې به یې پټ کړم.

د کارغه مور وویل: داسې نشي کېداې، مېره دېویني. د دې نه سربېره، کله چې ګلان اوبه کوي، بچی مې لمدېږي او یخنې یې کېږي.

اولدوز وویل: نو چېرته یې پټ کړم؟

د کارغه مور آخوا دېخوا وکتل او وې ویل: د زینې لاندې ښه ځای دی.

زینه بام ته جوړوي. په وړو ښارونو او کلو کې دغه شان زینې ډېرې دي. د زینې لاندې د چرګانو کوډګۍ وه. کوډګۍ دننه هواره وه. د کارغه بچی یې هلته کېښود او ور یې پسې بند کړ چې پیشو رانشي او وې نه خوري او مېره یې هم پوه نشي.

د ور لاندې یو سوری وو او د کارغه بچي سا اخیستلای شوه.

اولدوز د کارغه مور ته وویل: د کارغه مورې، نوم یې څه دی؟

د کارغه مور وویل: ورته "ښاغلی کارغه" وایه!

اولدوز وویل: هلك دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارغه مور وويل: هو.

اولدوز وويل: له څه نه معلومېږي چې هلك دی؟ کارغان خو ټول يو شان دي.

د کارغه مور وويل: تاسې داسې فکر کوی. که لږ ځير شی پوهېږئ چې هلك دی که جينی. سر او مخ يې وروښود. هاخوادېخوا لږ نور هم وغږېدل او سره جلا شول. اولدوز کوټې ته لاړه، پرېوتله، سترګې يې پټې کړی. کله چې مېره يې راويښه شوه، ګوري چې اولدوز لا اوس هم بيده ده. خو اولدوز رښتيا نه وه بيده شوی. خوب نه ورتلو. د ښاغلي کارغه په فکر کې وه. د سترګو لاندې يې مېرې ته کتل او په زړه کې يې خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوندورې غنې

څو ورځې تېرې شوې. اولدوز ډېره تازه او خوشاله وه. مېرې او پلار يې تعجب کاوه. يوه شپه مېرې يې پلار ته وويل: نه پوهېږم په دې جينۍ څه شوي، تل خاندي او ګډېږي. پخوانی حال يې نه دی. بايد د کار سته مته يې پيدا کړو.

اولدوز دا خبرې واورېدلې، له ځان سره يې وويل: بايد لا احتياط وکړم.

هره ورځ دوه درې کرتې ښاغلي کارغه ته ورښکاره کېده. کله چې څوک نه ول، ښاغلی کارغه به يې د کوډګۍ نه راووست او لوبې به يې ورسره کولې.

اولدوز ښاغلي کارغه ته ژبه وريادوله. د کارغه مور به هم کله کله راتله. زوې ته به يې څه راوړل، لکه يوه ټوټه غوښه، صابون او داسې نور. يوځل يې دوه غنې راوړې وې. غنې د کارغه مور په پښو کې نښتې وې، لاس او پښې يې وهلې خو خلاصېدای نه شوې. څه اوږدې پښې يې درلودلې. اولدوز ورڅخه ډار شوه. د کارغه مور وويل: زړګيه مه ډارېږه. وګوره بچی مې هغه څنګه خوري.

رښتيا هم د کارغه بچي په ډېر خوند وخوړلې. بيا يې منبوکه څو کرتې د ښي او کيڼې خوا نه پر ځمکه راکښله او وې ويل: مورجانې، بيا يې هم راته راوړه. ډېرې خوندورې وې.

مور يې وويل: ښه، بيا يې هم راوړم.

اولدوز وويل: زموږ په پخلنځي کې دا ډېرې دي. درته رابه يې راوړم.

د کارغه بچي ناړې تېرې کړې او مننه يې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغې ورځې وروسته اولدوز هاخوا دېخوا گرزېده، د غنو ښکار به يې کاوه، د کميس په جيب کې به يې اچولې، ټنې به يې ورپسې تړلې چې ونه ووځي. بيا به يې په يو سم وخت کې وړې او د کارغه بچې ته يې ورکولې. البته دا د هغه په خواړو کې نه راتلې. دا د پټاسو، نقلو او شيرينې او داسې نورو پر ځای وو.

د کارغه مور ويلي وو که ژوندي خواړه ونه خوري، خامخا مري. هېڅ شی يې ژوندی ساتلای نشي. هېڅ شی، خو يوازې خواړه يې ساتلی شي.

يوه ورځ د غرمې د ډوډۍ پر وخت، مېرې يې څو غنې وليدلې چې لاس او پښې يې ماتې دي او پر دسترخوان روانې دي. اولدوز پوه شوه چې د دې له جيبه راوتلې دي.

زړه يې ډب ډب شروع کړ. لومړی يې وغوښتل راټولې کړي او په جيب کې يې واچوي بيا يې فکر وکړ ښه ده، ځان نانگاره کړي. مېرې د پښو نه ونيولې او بهر ته يې وغورځولې او بلا په خير تېره شوه.

له غرمې ډوډۍ وروسته اولدوز د کارغه بچي ته ورغله، چې پاتې غنې ورته ورکړي. مخکښې يوه دوه غنې يې هم د انگړ له غاړو څنډو نه موندلې وې، يوه يې په دوو گوتو ونيوله چې د کارغه د بچي په خوله کې يې ورکړي. دا يې د کارغه د مور نه زده کړي ول، چې څنگه يې په خپلې مښوکې سره د بچي په خوله کې خواړه ورکړل.

د کارغه بچي غوښتل غنې ونيسي چې يو دم يې سر تا وکړ او وې ويل:
اولدوزجانې، نه يې خورم.
اولدوز وويل: آخر ولې، زما کوچنی کارغه؟
د کارغه بچي وويل: نوکان دې وگوره څه ډول دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولدوز وویل: ولې څه ډول دي؟

د کارغه بچي وویل: اوږده، ناولي، تور! ډېر وبخښه اولدوز بي بي. تټوکې کوم خو زه نشم کولای هغه خواړه وخورم چې... پوهېږې اولدوز بي بي نو؟

اولدوز وویل: پوهېږم. له تا نه ډېره مننه کوم چې زما عیب دې راته مخامخ ووایه. زه به له دې نه وروسته په دې ناولو نوکانو خواړه ونه خورم. باور وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کب پر سر شورماشور او د کارغه د مور د اعدام حکم

په حوض کې څو سره او کوچني کبان ول. شپږمه یا اوومه ورځ وه، چې اولدوز یو کب ونیو او د کارغه بچې ته یې ورکړ او هغه وخوړو. دا لومړی کب وو، چې خوړو یې. د مور نه یې اورېدلي وو، چې د ماهي ښکار او خوړل ډېره مزه لري خو لیدلي یې نه وو چې څنګه خوړل کېږي. د ده مور د اولدوز د مېرې په شان نه وه. په ډېرو شیانو پوهېده. په دې پوهېده، چې څه شی یې زوي ته ښه دی او څه شی ورته بد دی.که د کارغه بچي ورنه بد شي غوښتلو، نو ورته نه ګورېدله.ویل به یې چې:زویه! دا درته نه راوړم ځکه چې دا یا هغه ضرر لري. که فلانی شی وخوری نو ښه قاغ قاغ نشې کولای. ځکه چې غږ دې نښلي، او...

خپل بچي ته به یې د ټولو شیانو علت وایه. خو مېره داسې نه وه. تل به یې په توندخویي سره ویلی: اولدوز فلانی کار مه کوه. فلانی شی مه خوره. فلانی ځای ته مه ځه. داسې مکوه، هغسې مکوه. سمه کښېنه. په جګ آواز خبرې مکوه. ولې پس پس کوی او داسې نورې خبرې. مېرې یې هېڅکله نه ویل، چې مثلاً ولې په لوړ آواز خبرې ونه کړي، ولې باید غرمه بیده شي. اولدوز لومړی فکر کاوه چې ټولې میندې د مېرې په شان دي. وروسته چې د کارغه له مور سره آشنا او بلده شوه، فکر یې هم بدل شو.

مېره یې چې سبا ته پوه شوه، چې یو کب نشته، چیغې یې آسمان ته پورته شوې. د غرمې ډوډۍ پر وخت یې مېړه ته وویل: دا کار، د کارغه کار دی. هاغه کارغه، چې راځي او د ډنډ د غاړې نه صابون پټوي. ډېر چاغ دی. که وې نیسم پر دار یې ځړوم. پهانسي کوم یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارغه مور ته یې بدې بدې کنځلې هم وکړې. اولدوز غلې وه، که څه یې ویلې، مېره یې پوهېدله چې دا له کارغه سره اړیکې لري. په تېره بیا چې یوه ورځ مخکې نژدې وو د ډنډ پر غاړه یې گیر کړي.

مېړه یې وویل: کارغان ټول ناولي دي. ټول غله دي. په ټول عمر کې مې یوه ښه کارغه ندی لیدلی. ښه ده، ځارنه یې کوه، که نه، نو یو کب به هم په ډنډ کې ترې پاتې نشي.

مېرې وویل: هو، باید ځارنه یې وکړم، اوس چې د ماهیانو په خوند یې شوخند وهلی، زړه یې غواړي چې ټول یې وخوري.

اولدوز په زړه کې د خپلې مېرې په کم عقلتوب وخندلې. ځکه چې کارغان غاښونه نه لري. دا خبره د کارغه مور په خپله کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کارغه مور په ډېرو شیانو پوهېږي او له مرګه نه ډارېږي

غرمه، د کارغه مور راغله. ټول بیده ول. دواړه د توت د ونې د سیورې لاندې کېناستل، اولدوز ورته ټول شیان وویل:
د کارغه مور وویل: فکر یې مکوه. که مېره دې وغواړي ما ونیسي سترګې به یې راوباسم.
وروسته یې د کارغه بچی د کوډګی نه راوویست. اوس د کارغه بچي خبرې کولې – البته د اولدوز او د کارغانو د مور په شان نه. خو د ځان په نسبت یې خبرې بدې نه کولې. لږ یې په ګلانو او بوټو کې ټوپونه ووهل، اخودېخوا وګرځېد، وزرې یې ووهلې او بیا د مور په څنګ کې کېناست. مور یې وروښودل چې څنګه خپلې وزرې په مښوکه کې ونیسي اووې څنډي.
د کارغه مور د کینې څانګ لاندې ټپ درلود، هغه یې اولدوز او زوي ته ښکاره کړ. وې ویل: دا پنځوس ـ شپیته کاله پخوا ټپي شوی وو. د صابون غلا پسې تللې وم، صابون جوړونکي په کوتك ووهلم او ټپي یې کړم. پوره پنځه کاله تېر شول چې ټپ مې ښه شو. صحرایي میوې مې ومونډلې او ومې خوړلې، اخر ښه شوم.
اولدوز د کارغه د مور د باسوادۍ او پوهې نه حیرانه شوه او هیله یې کوله چې کاشکې د دې په څېر مور یې درلودای. خپله مور یې نه یادېدله. یوازې یو ځل یې د مېرې نه اورېدلي وو چې مور هم لري. یوه ورځ د مېرې او پلار یې لانجه وه. مېرې یې وویل: لور دې هم کلي ته بوځه، مور ته یې پرېږده، زه نور د دې خدمت نشم کولی. همدا نن سبا زه د خپل بچي خاونده کېږم.
رښتیا چې د مور ګېډه یې پړسېدلې وه او د زېږون وخت یې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو دوه ځلې د اولدوز تره هم ورته د مور څه خبرې کړې وې. تره يې کله کله د کلي نه ښار ته راتله او دوې ته به ورښکاره کېده. اولدوز دومره پوهېده چې مور يې په کلي کې اوسېږي او دا ورته ګرانه ده. له هغې نه نوره خبره نه وه. دغه ورځ د کارغه مور اولدوز ښکل کړه، زوی يې ښکل کړ او والوتله او په بلې کېناسته چې د کارغانو ښار ته لاړه شي.

اولدوز وويل: زما سلام دې هغه بل زوي او د «کارغه پلار» ته ورسوه.

وروسته ورپه ياد شوه چې څه سوغات هم هلکانو ته ولېږي. چوشك يې د کميس په جيب کې وو. مېرې ورته اخيستلی وو، هغه يې له جيبه راوويست پر زينه بلې ته وختله، د کارغانو مور ته يې چوشك ورکړ چې بچيانو ته يې ورکړي. دغه وخت د کارغانو مور والوتله او لاړه د يوې ونې په سر کېناسته. مخ يې اولدوز ته راواړه وو، قاغ قاغ يې وکړ، والوتله او له سترګو پناه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له «یاشار» سره لنډ ملاقات

اولدوز د بام پر سر ولاړه وه. همداسې یې لېرې لېرې کتل. ناڅاپه ورپه یاد شو، چې د مېرې له اجازې پرته بام ته ختلې ده. لږه ډار شوه. یو نظر یې شاوخوا کورونو ته وکتل. رښتیا چې د بلې سر څومره ښکلی وو. د کینې خوا ګاونډې انګړ ته یې وکتل دلته د «یاشار» کور وو. یو دم «یاشار» ورو ورو راووت لاړ د سپي هغې کوډګې خولې ته کېناست چې تل به خالي وه. یاشار دوه دری کاله د اولدوز نه غټ وو. یو هوښیار او مهربانه هلك وو. اولدوز چې هر څه وکړل چې یاشار یې وویني، ونشو. په جګه یې آواز هم نشو کولای. ناهیلې کېده چې یاشار سر راپورته کړ، هغه یې ولیده. اول حیران شو، بیا په خوشالۍ سره د دیوال بېخ ته راغی او وې ویل: اولدوز، ته دلته څه کوی؟

اولدوز وویل: زړه مې په تنګ شوی وو. ومې ویل لاړه شم د بام سر ته اخوادېخوا وګورم.

یاشار وویل: مېره دې چېرته ده؟

اولدوز هر څه هېر کړي ول، چې څنګه یې دا خبره واورېده ورپه یاده شوه چې د کارغه بچی یې د انګړ په منځ کې پرېښودلې دی.کېدای شي مېره یې راوینښه شي بیا نو هغه وخت وای څومره بد کېږي!

په تندۍ سره د یاشار نه جدا شوه او راکوزه شوه. د کارغه بچی یې ونیو او کوډګې ته یې ننویست. غوښتل یې ور پسې بند کړي چې د مېرې غږ یې راپورته شو: اولدوز، لاړې په کوم قبر کې پټه شوې؟ ولې ځواب نه راکوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اولدوز زړه ولوېد. اول یې څه نشو ویلای. بیا یې لږ لاس او پښې راټولې کړې او وې ویل: مورې دلته یم، میتازې کوم. مېرې یې نور څه ونه ویل. بلا په خیر او خوښۍ تېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کارغانو د مور اعدام

سبا سهار وختي اولدوز له خوبه راجگه شوه. د کارغانو مور قاغ قاغ کاوه او مرسته يې غوښتله. لکه چې څوك وژني او چيغې وهي. اولدوز په منډه انګړ ته راغله مېره يې وليده چې د توت د ونې لاندې ولاړه ده، د کارغانو مور يې له ونې را څوړنده کړې ده، قاغ قاغ کوي. مېره يې په لرگي وهي او کنځا ورته کوي، د مېرې مخ يې ټپي شوی و او وينې ترې څڅېدلې. کارغه وزرې ښورولې او قاغ قاغ کاوه، د پښو نه څوړنده وه.

اولدوز په خپله هم پوه نشوه چې د مېرې خوا ته يې څه وخت ورمنډه کړه پښې يې ورته ونيولې او وې چيچلې. مېرې يې چيغه کړه:...آخ او اولدوز يې له ځانه بېرته کړه او د غوږ بېخ يې ورله په کلکه څپېړه وواهه. اولدوز وغورځېده سر يې په ډبرو ولګېد بی هوشه شوه او نوره پوه نشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اولدوز پرېشانه خوب

اولدوز ماسپښین سترګې وغړولې. څو کسه ګاونډیان هم ول. مېره یې سرته ناسته وه. په کاشوغه یې دوا په خوله کې ورڅڅوله. یوه سترګه او تندی یې ورته په سپین دستمال تړلی و. د اولدوز سترګو هر څه خړ خړ لیدل خو ورو ورو یې یو یو تن وپېژانده. یاشار یې هم ولید چې د مور څنګ ته ناست دی او ډډه یې ورته لګولی ده.

مېرې ولید چې اولدوز سترګې وغړولې. په وارخطایي وویل: شکر! سترګې یې وغړولې. نوره نه مري. اولدوز.... خبرې وکړه!...

اولدوز خبرې کولای نشوی. مېرې خوا ته یې مخ وګرځاوه. ناڅاپه د کارغه د مور قاغ قاغ له هرې خوا پورته شو. اولدوز د لېونۍ په شان د مېرې څنو ته لاس واچاوه او چیغه یې کړه. خو سر یې داسې درد ونیو چې بې اختیاره یې لاس وختل او غږ یې غلی شو. دغه وخت یې د ژړا هق هق جګ شو او وې ویل: د کارغه مور.... چېرته ده؟.... چېرته ده؟... د کارغه مور.... چېرته ده؟.... وړوکې کارغه څه شو؟.... مورې!.... مورې!....

یاشار د ټولو نه مخکې ورمنډه کړه. هر چا خبرې کولې او غوښتل یې هغه په کراره کړي. خو اولدوز های های ژړل. مېرې یې مهرباني کوله. کرار کرار یې خبرې کولې. ویلې: اولدوز جانې مه ژاړه. دارو دې وخوره ژر ښه کېږې.

اولدوز د ژړلو نه ستړې شوه او بیده شوه. خوب یې ولید چې د کارغه مور د توت له ونې څوړنده ده، سا یې خیژي، وایي: اولدوز زه لاړم، زما خبرې هېرې نکړې، مه ډارېږه! اولدوز د ونې خوا ته منډه کړه. مېره یې سمدستي د ونې له شا نه راووتله. وغوښتل یې چې په لغته یې ووهي. اولدوز چیغه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په وېره له خوبه پاڅېده او د ژړا هق هق یې پورته شو. د غه وخت یې یوازې پلار او مېره مور په کوټه کې ول. بیا بیده شوه، لږ وروسته یې بیا هماغه خوب ولید. چیغه کړه او له خوبه راپاڅېده. تر شپې پورې همداسې پاڅېده او بیدیده. یو وار یې سترګې وغړولې، ګوري شپه ده. ډاکټر یې معاینه کوي. واورېدل یې چې پلار ته یې ډاکتر وایي: تېپ یې مهم نه دی. ژر ښه کېږي. خو جینې ډېره ډاره شوې، ټوپونه وهي. د څه شي نه ډېره سخته ډاره شوې. اوس ورته ستن وهم، په کراره او بیده به شي.

اولدوز وویل: زه وږې یم.

مېرې ورته شیدې راوړې. اولدوز شیدې وخوړې. ډاکټر ورته ستنه ووهله، بکس یې واخیست او لاړ.

اولدوز چت ته کتل او څه یې نه ویل. غوښتل یې د پلار او مېرې خبرې واورې خو ډېر څه یې وانه اورېدل. ژر خوب یووړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښاغلي کارغه د زړه خواله او د کارغه د مور د نيول کېدو څرنګوالی

سبا سهار اولدوز ته د کارغه بچی په ياد شو. لاس يې ولړزېد او چاى په برستنه توی شو. مېرې سترګې برندې کړې خو څه يې ونه ويل. پلار يې ولاړ و. پتلون يې اغوستلو چې دفتر ته لاړ شي. اولدوز غوښتل چې پاڅي او د کارغه بچي ته ورشي. خو عاقلانه کار نه و. هېڅ نه پوهېده چې د کارغه بچی ته به څه ورپېښ شوي وي، نه پوهېده د کارغه مور څنګه سهار وختي د مېرې په لاس کيوتې ده. مېرې يې د سترګې نه دستمال ابله کړی و. په مخ او وروځو يې د کارغه د مور د مښوکې ځای معلومېده.

پلار يې چې لاړ مېرې يې وويل: زه د ياشار مور ته ورځم ژر بېرته راځم. ډېر وخت وشو چې حمام ته نه يم تللې. دا ځل تا له ځان سره نشم بيولاې. غواړم وګورم د ياشار مور له ما سره حمام ته تلای شي.

مېره په رښتيا مهربانه شوی وه. هېڅکله يې له اولدوز سره دا ډول خبرې نه کولې. خو اولدوز نه غوښتل ورسره خبرې وکړي. بده يې شوه. يو دم يې يو څه په زړه کې راغله او وې ويل: مورجانې، اوس چې ته حمام ته روانه يې، ياشار ته ووايه چې دلته راشي، زه يوازې خپه کېږم.

مېرې يې وويل: ياشار ښوونځي ته ځي.

اولدوز څه و نه ويل. مېره يې لاړه. اولدوز پاڅېده او د کارغه بچي ته ورغله. د کارغه بچی اوږد غزېدلی و او ژړل يې او همدا چې اولدوز يې وليده، وې ويل: آه، بالاخره راغلې!....

اولدوز وويل: ما و بخښه چې يوازې مې پريښودلی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارغه بچي وویل: اوس خو یو څه شی راوړه چې ویې خورم. بیا به خبرې کوو. ډېر وږی یم. ډېر تږی یم.

اولدوز لاړه او اوبه اوخواړه یې راوړل. د کارغه بچي څو مړی وخوړې او وی ویل: فکر مې وکړ چې ته هم زما مور پسې لاړې.

اولدوز وویل: مور دې چېرته لاړه؟

د کارغه بچي وویل: هېڅ چېرته، مېرې دومره ووهله چې مړه شوه، بیا یې په ډېرانه کې وغورځوله.

اولدوز ژړا بس کړه او وې ویل: څه پای او انجام! اوس به سپو ټوټې ټوټې کړي او خوړلی وي.

د کارغه بچي وویل: ممکنه نده. زموږ د کارغانو غوښه ترخه ده. سپی ان جرئت نشي کولای زموږ غوښې ته غاښ وروړي. زموږ مړی تر هغې پر ځمکه پروت دی څو وروست او تیت شي. اوس مې مور په ډېرانه یا بل ځای کې پرته ده او ورستېږي.

اولدوز ځان نشو ټینګولای، ژړل یې. د کارغه بچي هم وژړل. آخر اولدوز وویل: اوس مېره راځي، موږویني. زه ځم. وروسته له هغې چې مېره حمام ته لاړه. بیا تا پسې راځم.

د کوډګی ور یې وتاړه او لاړه د بړستنې لاندې وغزېده. مېره یې راغله کځوړه یې واخیسته او لاړه. اولدوز په کراره زړه د کارغه بچي ته راغله. ښایسته لمر غوړېدلی و. د کارغه بچی یې راوویست. ور یې ابله پرېښود چې لمر کوډګی ته ورننوزي.

د کارغه بچي وزرې وځنډلې. مښوکه یې کینې او ښي خوا پر ځمکه راکښله او وې ویل: اولدوز جانې، رښتیا چې آزادي ښه شی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولدوز اسوېلی وکړ او وې ویل: ته پوهېږې مور دې سهار وختي څه پسې راغلې وه؟

د کارغه بچي وویل: پوهېږم.

اولدوز وویل: کولای شې ما ته یې هم ووایې؟

د کارغه بچي وویل: رښتیا دا ده چې راغلې وه ما بوځي او الوتل رازده کړي. لمرخاته ما ته راغله او وې ویل: نن د الوتلو ورځ ده، ورونه او خور دې بیایم او الوتل ورزده کوم. ته هم باید راشې. وروسته درپسې راځم. ما مې مور ته وویل: اولدوز څنګه؟ نه یې خبروې؟

مور مې وویل: خبرووم یې. مور مې د کوډګی ور وتړلو او درغله تا خبر کړي. لږ وخت تېر شو خو ته بهر رانه وتلې. زه په کوډګی کې وم. ناڅاپه مې تر غوږ شو چې ونیسئ او وتړئ یې. مور مې چیغې کړی: «قاغ!.... قاغ!...» زړه مې وغورځېد. مور مې ویل: «مګر موږ په دې ښار کې د ژوند کولو حق نلرو؟ ولې نباید له هر چا سره چې وغواړو براالا دوستي وکړو؟» د ور د سوري لاندې مې وکتل و مې لید چې مور مې مېرې د غلبیل لاندې کړې ده. ښکاره وه چې د مور په خبرو مې نه پوهېده.

اولدوز بی طاقته شوه، په تونډې یې پوښتنه وکړه: بیا څه وشو؟

د کارغه بچي وویل: بیا یې مور په پړي وتړله او د توت له ونې یې ځوړنده کړه. مور مې یو دم ټوپ کړ او د مېرې مخ یې په مښوکه وواهه او ټپي یې کړ. دغه وخت مېره په غصه شوه او په مور یې د کوتك په وهلو شروع وکړه.

اولدوز وویل: د کارغه مور نور څه ونه ویل؟

د کارغه بچي وویل: ولې نه، وې ویل چې ای ناپوهه مېرې، ته فکر کوئ چې د کارغانو غلا خوښېږي؟ که زه د خوراك څه ولرم چې خپله او د بچیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګېډه مړه کړم، نو لېونی یم چې بیا هم غلا وکړم؟... خپله ګېډه مړوئ، فکر کوئ ټول ستاسو په شان دي!....

د کارغه بچی غلی شو. اولدوز ژړا بس کړه او پوښتنه یې وکړه: بیا څه وشو؟

د کارغه بچي وویل: بیا ته راووتلې. له یو کمیس سره... نور ته په خپله پوهېږی.

یوه شېبه دواړه غلي شول. اولدوز وویل: نو د کارغه مور لاړه او ژوند یې ختم شو! اوس څه کار وکړو؟

د کارغه بچي وویل: زه باید الوتنه زده کړم.

اولدوز وویل: سمه ده. زه په خپله هم په همدې فکر کې یم.

د کارغه بچي وویل: کاشکې پلار، ورونه، خور او انا مې پوهېدلاې چې زه چېرته یم.

اولدوز وویل: هو، مرسته به یې راسره کړی وای.

د کارغه بچي وویل: په یاد دې دي مور مې ویلي که تر څو نورو ورځو الوتنه زده نه کړم، مرم؟

اولدوز وویل: په یاد مې دي.

کارغه بچي وویل: ته یې په دقیقو ورځو پوهېږئ؟

اولدوز په خپلو ګوتو شمېر وکړ او وې ویل: د شپږو ورځو نه زیات وخت نلرو.

د کارغه بچي وویل: ستا په فکر باید څه کار وکړو؟

اولدوز وویل: غواړی تا یاشار ته ورکړم، صحرا ته دې بوځي او الوتل درزده کړي؟

د کارغه بچي وویل: یاشار څوك دی؟

اولدوز وویل: همدا زموږ د کینېي خوا ګاونډی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کارغه بچي وويل: که ښه وي زه څه نه وايم.
اولدوز وويل: ښه خو دی. راز ساتونکی هم دی، خو څنګه يې خبر کړو؟
د کارغه بچي وويل: همدا اوس بام ته وخېژه، ورته وواېه راشي او ما بوځي.
اولدوز وويل: اوس نه کېږي. ښوونځي ته تللی.
د کارغه بچي وويل: ښوونځی؟ د اوړي د رخصتيو لاتر اوسه څو ورځې پاتې دي.
اولدوز وويل: ته رښتيا وايې. مېرې راته درواغ ويلي دي. اوس ښوونځی رخصت دی. زه د بام سر ته خېژم، ته همدلته منتظر اوسه.
د زينې په دوهمې پوړۍ کې وه، چې د کوټې نه د پښې آواز راغی. اولدوز ژر د کارغه بچی په کوډګی کې کېښود. ور يې رابند کړ، کوټې ته لاړه د بړستنې لاندې وغزېده او انګړ ته يې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کور قرنطین کېږي

د سپي غپ غپ يې واورېد. دروازې آواز وکړ، پلار يې راغی. ورپسې اکا يې هم، د پلار وړوکی ورور يې. شا ته يې تور سپی هم راونووت. د سپي ځنځير د اکا په لاس کې و.

پلار يې وويل: اوس نو هېڅ کارغه نشي کولای دلته پښې کېږدي.

اکا وويل: ژمی چې راغی باید راشم او بویې ځم.

پلار وويل: بده نه ده. چې ژمی شو مور هم سپي ته ضرورت نلرو.

اکا وويل: اولدوز چېرته ده؟ له مور سره يې تللې ده؟

پلار يې وويل: نه، ناروغه ده، بیده ده.

د توت په ونې پورې يې د سپي ځنځير وتړلو او اتاق ته راننوتل. اولدوز ته اکا گران وو. په دې خاطر چې د مور د کلي نه يې راتلو.

اکا د اولدوز پوښتنه وکړه، خو د مور يې څه ونه ويل. د پلار يې نه خوښېده چې څوک دې د ده په مخ کې د لومړۍ ښځې په اړه خبرې وکړي.

اکا د اولدوز پلار ته وويل: دفتر ته دې ېېرته نه ځې.

پلار وويل: نه، اجازه مې اخيستې ده. وخت هم تېر دی.

له دې وروسته بيا د سپي او کارغانو خبرې شروع شوې. پلار د کارغانو بد ويل. د ساري په توگه يې ويل چې: کارغان ناولي او ډارن غلاجن دي. راځي غلا کوي خو څنگه چې ووينې چې يو څوک ټيټېږي او ډبره او يو څه شی راخلي، نو ژر تښتي.

يو ساعت له غرمې نه تېر وو، مېره راغله، سپی لومړی وغرېد، خو چې کاکا د کړکۍ نه ورباندې غږ وکړ، غلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرى د کاکا نه مخ پټاوه، کاکا هم هغې ته نه کتل. سر يې ځوړند نيولى وو. اولدوز غلې ناسته وه، کاکا ته يې ډډه وهلې وه، ناڅاپه يې وويل: کاکا، نشى کولاى چې سپى دې بېرته له ځان سره بوځى؟

پلار يې سترگې بټې کړې، کاکا اولدوز ته مخ کړ او پوښتنه يې وکړه: ولې يې بوځم؟ د اولدوز ژبه ونښتله، نه پوهېدله څه ووايي. آخر يې وويل: زه.... زه ډارېږم.

پلار وويل: غلې شه جينکۍ، ناز مه کوه!

کاکا وويل: زړگېه مه ډارېږه، ښه سپى دى. ورته وايم، تا به نه داړي.

پلار وويل: پرېږده يې، د سړي خبره نه مني، په خپله د سپي نه لا خوشې ده. ټول داړي. بى ځايه د غلاجنو کارغانو پلوي کوي. هېڅ نه ده معلومه چې د دغه ناولو حيواناتو نه يې څه ليدلي.

اولدوز نور څه ونه ويل، برېستنه يې پر سر راکش کړه او بيده شوه، کله چې راويښه شوه ويې ليدل چې اکا يې تللى دى او سپى په انگړ کې غاپي او کارغان شړي.

له دغې ورځې ورسته کور قرنطين شو. هېڅ کارغه نشو راکوزېدى. ان اولدوز هم په وېره او ډار انگړ ته تلله. يوځل يې د پسه يوه ټوټه غوښه ښاغلي کارغه ته وړه چې تور سپي يې د لاس نه وتښتوله او ويې خوړه، اولدوز چيغه کړه او دننه ته يې منډه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خپګان او اندېښنې، د ولړې او ډار ورځې

اولدوز له خوبه راپاڅېده. د مېرې د تندي ټپ ژر ښه شو، خو د اولدوز ټپ ډېر وخت ونيو چې روغ شو. د مېرې چلند بېرته بيا بدل شو. د پخوا لا زياته به په اولدوز قهرېدله. د اولدوز د غاښونو ځايونه د هغې په ورون کې ښکارېدل.

د ښاغلي کارغه حالت ډېر خراب شوی وو، تل به وړی وو. اولدوز هر څومره چې زيار ويست پر وخت يې د هغه د پاره خواړه او اوبه نشو رسولای. څلور سترګي تور سپي ټول ځايونه لټول او هر ناآشنا غږ به يې څاره. د اولدوز او ښاغلي کارغه يوازينۍ هيله ياشار وو. که ياشار ورسره مرسته وکړي چارې به سمې شي. خو نه پوهېدل چې هغه څنګه خبر کړي. اولدوز د سپي له ډاره بام ته هم نه شوه ختلای. تور سپي به نه پرېښووده ورته به يې غپل، کېدای شو وېې داړي. تل به انګړ کې ګرځېده او هر څه به يې بويول.

د ياشار مور به کله کله د دوې کور ته راتله. خو څه به يې ورته نشو ويلای. معلومه نه ده چې هغه هم د مېرې ملګرې نه وي؟ د دې زمانې پر خلکو ژر باور نشي کېدای. اوس مېرې هېڅ وخت هغه له چا سره يوازې نه پرېښووده.

ورځې يو پر بل پسې تېرې شوې. پنځه ورځې په خپګان او اندېښنې کې تېرې شوې، يوه ورځ فرصت پاتې وو. اولدوز يوازې کولای شول په همدې ورځ ښاغلی کارغه والوزوي که نه نو مړ به شي، خو نه پوهېده چې څه ډول يې والوزوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر فرصت پيدا شو او ياشار يې وليد. په همدغه ورځ مېرې غوښتل واده ته لاړه شي. اولدوز وويل: مورې، زه د سپي نه ډارېږم يوازې په کور کې نشم پاتې کېدای.

مېرې هغه له لاسه ونيوله او د ياشار مور ته يې وسپارله. اولدوز د زړه له کومې خوشاله وه. ياشار يې په کور کې ونه ليده. د هغه له مور نه يې پوښتنه وکړه: ياشار چېرته دی؟

مور يې وويل: ښوونځي ته تللی دی. پرون ښوونځی پرانيستل شوی دی.

اولدوز کېناسته او د ياشار انتظار يې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښاغلي کارغه د آزادولو پلان

غرمه وه، یاشار په منډه منډه راغی، اولدوز یې چې ولیده، سور شو او سلام یې وکړ. اولدوز د سلام ځواب ورکړه. یاشار وړه خور هم درلوده، مور یې شیدې ورکولې چې بیده شي. اولدوز او یاشار انګړ ته لاړل.

اولدوز په کرار او غمجن آواز وویل: یاشار پوهېږي څه وشول؟

یاشار وویل: نه.

اولدوز وویل: ښاغلی کارغه مري.

یاشار وویل: کوم ښاغلی کارغه؟

اولدوز وویل: زما ښاغلی کارغه.

یاشار وویل: مګر تا کارغه هم درلود؟

اولدوز وویل: هو، درلود مې. اوس څه کار وکړو؟

یاشار په هیجان سره پوښتنه وکړه: له کومه دې پیدا کړی دی؟

اولدوز وویل: بیا درته وایم، اوس وایم څه وکړو؟

یاشار وویل: له ولوږې نه مري؟

اولدوز وویل: نه.

یاشار وویل: تبې شوی دی؟

اولدوز وویل: نه.

یاشار وویل: نو بیا ولې مري؟

اولدوز وویل: الوتلای نشي. کارغه که وانه الوزي، خامخا مري.

یاشار وویل: ما ته یې را کړه زه به ورته الوتل زده کړم.

اولدوز وویل: د پوړۍ لاندې مې پټ کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاشار وویل: مېره دې خبره ده؟

اولدوز وویل: که پوه شي وژني یې.

یاشار وویل: باید یو چل وکړو.

اولدوز وویل: لومړی باید د سپي کار وکړو. غږ یې نه اورئ؟

یاشار وویل: ولې نه، اورم یې. سپی نه پرېږدي چې ښاغلی کارغه راوباسو. یوه دوه ورځې مهلت راکړه، زه فکر وکړم، پلان جوړ کړم، کار به یې وکړم.

اولدوز وویل: فرصت نه لرو، باید همدا نن ښاغلی کارغه راوباسو، که نه نو مري. دا راته د کارغه مور ویلي و.

یاشار په هیجان راغلی و. احساس یې کاوه چې غټ کار یې مخې ته دی. په بیړه یې پوښتنه وکړه: دا د کارغه مور څوك ده؟

اولدوز وویل: د ښاغلي کارغه مور ده. دا درته وروسته وایم. اوس باید یو کار وکړو چې ښاغلی کارغه مړ نشي.

یاشار وویل: له غرمې وروسته زه ښوونځي ته نه ځم، پټ څو او ښاغلی کارغه راوړو.

د غرمې ډوډۍ یې وخوړه، د یاشار پلار خپل کار ته لاړ او مور یې د تي ماشوم بیده کړ.

یاشار وویل: زه او اولدوز نه بیده کېږو. زه باید سبق ووایم او تمرین وکړم.

یاشار به کله کله دغه شان درواغ ویل چې مور یې یوازې پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له زندان څخه د ښاغلي کارغه د آزادۍ لپاره قتل

لږ وروسته، دواړه بهر راووتل. په پوړۍ باندې بلې ته وختل، اخوا دېخوا یې وکتل. ویې لید چې تور سپی یې اېله کړی دی. د ښاغلي کارغه د کوټۍ ورته پروت او بیده دی.

یاشار وویل: زه ورکوزېږم او ښاغلی کارغه راوړم.

اولدوز وویل: نه وینې چې سپی د ور په خوله کې پروت دی؟

یاشار وویل: رښتیا وایی، ښاغلی کارغه بېچاره، گوره څه حال لري؟

اولدوز وویل: فکر نه کوم ډېر وډار شي، زړه ور کارغه دی.

یاشار وویل: اوس څه کار وکړو؟

اولدوز وویل: فکر وکړو، چاره ولټوو.

یاشار وویل:اوس یو فکر کوو، اوس یوه نقشه جوړوو....

د مېرې د سرکی خُم د بام پر سر په یوه څنډه کې پروت وو. مېرې د خُم پر شاوخوا ډېرې اېښودې وې چې و نه لوېږي. د یاشار سترگې پر سپي ولگېدې. سمدلاسه یې وویل: راځه سپی ووژنو.

اولدوز حیرانه شوه، وې ویل: وې وژنو؟

یاشار وویل: هو. که وې وژنو د تل لپاره به یې له شر نه خلاصه شې.

اولدوز وویل:زه ډارېږم.

یاشار وویل: زه یې وژنم.

اولدوز وویل: گناه نه ده؟

یاشار وویل: گناه؟ نه پوهېږم. زه نه پوهېږم چې گناه څه ته وایي. خو لکه چې بله لار نشته. مور خو له چا سره بد نه کوو چې گناه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولدوز وویل: سپی مې د کاکا دی.

یاشار وویل: وي دي. کاکا دې ولې سپی دلته راوړی او تړلی دی چې تا وډاروي او ښاغلی کارغه بندي کړي؟

اولدوز ځواب نه درلود چې ورېې کړي. یاشار کرار کرار لاړ یوه غټه ډبره یې راپورته کړه او رایې وړه. اولدوز ته یې وویل: په کور کې څوك نشته؟

اولدوز وویل: مور مې واده ته تللې او پلار نه خبر نه یم. زما زړه په سپي سوزي.

یاشار وویل: فکر کوې زما د سپي وژنه خوښه ده؟ بله لاره نشته.

بیا یوه پوړۍ راکښته شو، د سپي پر سر ودرېد. دغه وخت یې ډبره پورته کړه او سمدلاسه یې کښته خوشې کړه. ډبره د سپي پر سر وغورځېده. سپي زګېروی وکړ او د لاس او پښو غورځول یې پیل کړ. ناڅاپه د اولدوز د پلار آواز یې تر غوږ شو. دوې شاته شول. پلار راووت او ویې لیده چې د سپي سا خېژي.

یاشار د اولدوز په غوږ کې وویل: راځه چې ځو. اوس دې پلار سپی ویني او بام ته راخېژي.

اولدوز وویل: کارغه پرېږدوو؟

یاشار وویل: بیا زه ورپسې راځم.

دواړه په منډه راکښته شول، لاړل په کوټه کې کېناستل. یاشار کتابونه مخې ته کېښودل، هرڅا چې لیدل فکر یې کاوه چې سبق وایي. خو زړه یې غورځېده. رنګ یې هم یو څه الوتی وو. د بلۍ پر سر یې د بابا د پښو غږ واورېده. بیا غږ رانغی. یاشار یوازې بام ته وخوت. د اولدوز پلار جامې اغوستلې وې او د سپي د لاش تر څنګ ولاړ وو او بیا کوڅې ته راووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یاشار راپه یاد شو چې یوه ورځ یې ډېره غورځولې وه او د اولدوز د کور ښیښه ماته شوې وه، د اولدوز پلار د اوس په شان کوځې ته راوتلې وو او فال بین یې راوستلې او لاره یې بنده کړی وه، په دغه فکرونو کې په تونډې راکوز شو، لومړی یې ښاغلی کارغه راوویست او وی ویل: زه یاشار یم. سپی مې وواژه چې ته آزاد شی.

ښاغلي کارغه وویل: مننه، خو نور وخت تېر دی.

یاشار وویل: ولې؟

ښاغلي کارغه وویل: د مور نیټه مې تر نن غرمې پورې ده، هغه تېره ده، ما دومره ولوږه گاللی ده، چې د الوتلو وس نلرم.

یاشار غمژن شو، نژدې و چې وژاړي. وې ویل: اوس نه راځې چې زه درته الوتل زده کړم؟

ښاغلي کارغه وویل: ومې ویل وخت تېر دی. اولدوز ته ووایه زما نه څو ښکې وباسه او وې ساته. په هر ډول چې وي، کارغان په ما او تاسو پسې راځي.

ښاغلي کارغه دا وویل، مښوکه یې وتړله او وجود یې سوړ شو. یاشار وژړل.

ناڅاپه یې یو فکر په سر کې وگرځېد، سترگې یې له شیطانت نه وځلېدې. موسکې شو د پوړۍ د پاسه یې د ښاغلي کارغه جنازه وکړه. ډېره یې راواخیسته د پخلنځای په منځ کې یې وغورځوله، د سپي لاش یې د توت د ونې ستې ته کېښود، یو سطل اوبه یې راوړی، د دروازې او پوړۍ لاندې ویني یې پرېمنځلې، سطل یې د خوني په منځ کې نسکور کېښود. دغه وخت یې ښاغلی کارغه واخیست او لاړ، د بام پر سر ورپه یاد شو، چې باید د پښو منډ یې پاتې نشي. هغه یې وران کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولدوز ډېره غمژنه شوه. ویې ژړل. خو کار شوی و او چاره یې نه درلوده. یاشار ورته ډاډګېرنه ورکړه او وې ویل: که غواړې چې کار لا وران نشي، باید غږ دې ونه باسې، څوك پوه نشي. داسې بلا به ورباندې پرېوځي چې خوند یې وګوري. نن مې د ښوونکي نه ځینې شیان زده کړي دي او غواړم پلار او مېره دومره ډار کړم، چې ان د خپل سیورې نه هم وتښتي.

بیا یې هغه څه چې ښاغلي کارغه ویلي وو او څه چې یې په خپله کړي ول، اولدوز ته وویل. اوس اولدوز څه په حال شوی وه. د ښاغلي کارغه څو بڼکې یې راوویستلې او په جیب کې یې واچولې. یاشار جنازه یو وړه او په یو ځای کې پټه کړه، چې وروسته یې خښه کړي.

د یاشار مور خپل زوي په غېږ کې نیولی او بیده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هوښیار ماشومان، ناپوه پلار او میندې تېر باسي

ماشومان منتظر ناست ول. ناڅاپه شور ماشور شو. د اولدوز پلار چیغې وهلې. نور غبرونه هم ول. د یاشار مور له خوبه راپاڅېده او انګړ ته یې رامنډه کړه. بیا ستانه شوه او لوپټه یې پر سر کړه او بام ته وختله. د اولدوز پلار لېونی شوی وو. سر یې واهه او چیغې یې وهلې: وای، وای!.... برباد شوم!.... کور ته مې «پېریان» ننوتلي دي!... زه دلته نور نشم پاتې کېدای!.... کور ته مې «پېریان» ننوتلي دي!.... راسره مرسته وکړئ!....

فال بین او څو سړي ورنه تاو ول او غوښتل یې چې کرار یې کړي. د اولدوز پلار د سپي لاش وروښود او چیغه یې کړه: وګورئ، دا دلته چا غورځولی دی؟ ډېره چا وړې ده؟.... وینې چا پرېمنځلي؟..... کور ته مې "پېریان" ننوتلي دي!... لومړی راغلل سپی یې وواژه... بیا یې... وای.... وای!.....

اولدوز او یاشار د پوړۍ ببخ ته ولاړ ول. غوږ یې نیولی وو. د یاشار مور نه پرېښودل چې بلې ته وخېژي. یو بل ته یې سترګك واهه او په زړه کې یې د پلار او د نورو په بېعقلۍ خندلې. خوشاله ول چې دغه ټول خوشباوره کسان یې تېر ایستلي دي.

پلار یې په راکښلو راکښلو کوټې ته ننویست. خو ناڅاپه د ټولو د وېرې غبر پورته شو: د «پېریانو» نه له خدای پناه غواړو!...

پلار بیا غولې ته منډه کړه او د لېونو غوندې یې په چیغو وهلو اواخوادېخوا تللو شروع وکړه. نسکور سطل ټول ډارولي ول. بوډا سړي وویل:«پېریان»کور ته ننوتلي دي، کور پرېږدئ. یو کس دې په پېریان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅوونکې پسې لاړ شي. بل کس دې دعا ليکونکی راولي. پلار چيغه کړه: مرسته راسره وکړئ!... کور مې وران شو!....

يو تن په «سيد قلي پېريان پاڅوونکي» پسې ولاړ. بل تن «سيد ميرزا ولي دعا ليکونکې»پسې لاړ. يوې بوډۍ يوه «بسم الله» د کور نه راوړه، چې پېريان وتښتي. «بسم الله» له کوږموږ خط سره غټه ليکل شوې او په زوړ قاب کې اېښودل شوې وه. دوو سړو قاب په لاس کې ونيو او د بسم الله ويونکې په کور کې د ګوټونو په لټه کې شول. ناڅاپه يې د پخلنځي په منځ کې په يوه لويه ډبره سترګې ولګېدلې چې په وينو ککړه ده. په ډار ډار يې ډبره ونيوله او غولې ته يې راوړه.پلار چې ډبره وليدله بيا يې چيغې کړې: وای، وای!.... دغه ډبرې هلته څه کول؟.... چا دا وړې او هلته يې اېښې ده؟....«پېريانو» پر ما پسې راخيستلی ده.... غواړي په عذاب مې کړي.... وای!.... آخر ما څه ګناه کړې ده؟....

اولدوز او ياشار ديوال تر شا ولاړ ول. دا خبرې چې يې واورېدلې ويې خندل. سملاسي کوټې ته ننوتل چې د بلۍ پر سر کسان يې ونه ويني. ياشار وويل: اوس پرېږده چې مېره دې راشي نو څه خاورې به پر سر باد کړي. واده به ورته ګنډېر شي. دغه وخت دواړو د زړه له کومې وخندل. ياشار د اولدوز پر خولې لاس کېښود چې غږ يې څوك وانه وري.

معلومه نه ده چې چا مېره خبر کړی وه، چې په بيړه يې ځان کورته ورساوه. مېره يې وليد چيغه يې کړه او د انګړ په منځ کې راوغورځېده. ښځو په راکښلو راکښلو د ښي خوا ګاونډي کره بوتله. بوډۍ ويل: لومړی دې پېريان پاڅوونکي او دعا ليکونکی راشي، پېريان دې وباسي، بيا به اميندواره ښځه ورشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر مو نه خوږوم، لنډه دا چې  نیم ساعت وروسته پېریان پاڅوونکی او دعا لیکونکی راورسېدل. پېریان پاڅوونکي لوښې چپه کېښود او عجیبه او غریبه خبرې یې وکړې. هېنداره یې وغوښتله، عجیبه او غریبه آوازونه یې کول او اخر یې وویل: اې پېریانو، تاسو ته د پېریانو په پاچا قسم درکوم، د دې مسلمان له کوره ووځی، دې مه په عذابوئ!

بیا یې هېنداره وترنګوله او د الدوز پلار ته یې وویل: پنځوس روپۍ راکړه چې بند یې کړم او لاړ شي.

د اولدوز پلار چنه ووهله او دیرش روپۍ یې ورکړې. پېریان پاڅوونکي روپۍ واخیستلې او لاس یې د لوښي لاندې کړ بیا یې راویست او وې ویل: ای پېریانو د دې مسلمان له کوره لېرې شئ. دې مه په عذابوئ! تاسو ته د پېریانو په پاچا قسم درکوم!

لږ وروسته پاڅېده او په خندا خندا یې پلار ته وویل: له نېکمرغه لاس یې درنه واخیستل او ژر لاړل. بېرته نه راګرځي. په دې شرط چې ما خوشاله کړی.

پلار د خوښې سا واخیستله او دیرش روپۍ نورې یې پېریان پاڅوونکي ته ورکړی. هغه لاړ. وار د دعا لیکونکی راغی. په توره او نارنجي سیاهي باندې یې کږې وږې کرښې ولیکلې یوه یوه ټوټه کاغذ یې په هر کنج کې کېښود، شل روپۍ یې واخیستلی او لاړ.

مېره یې راوستله. څوک نه پوهېدل چې پېران پاڅوونکي څه کېښودل او څنګه لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې شپه شوه، د یاشار مور اولدوز کور ته بوتله. پلار او ښځه یې دومره وارخطا او ډار شوي ول چې تر دغه وخته پورې یې اولدوز ته فکر شوی نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## واوره، ساړه، بېکاري او انتظار

منى راورسېد، واوره او ساړه يې هم له ځان سره راوړل. بيا ژمى شو، واوره او ساړه له حده تېر شول. د اولدوز اکا په سپي پسې راغى، تش لاس او په قهر ستون شو. د سپي پر سر يې له پلار سره لانجه هم وکړه.

د مېرې وېره لا نه وه تللې، د پخلنځي ور او ديوالونه د چاپي او خطي دعاگانو نه ډك ول. د شپې به ډارېده يوازې به بهر ته وتلاى نشوه. اولدوز به يې له ځان سره بووله. اولدوز بېخي نه ډارېده. يوازې به بهر وتله او د زړه له کومې به يې مېرې پورې خندلې. د ښاغلي کارغه بنېکې يې د راډيو په ډبلي کې پټې کړې وې. ياشار يې هم ډېر لړ لېده. ياشار د ښاغلي کارغه جنازه په يو ښه ځاى کې خاورو ته سپارلې وه. منظم به ښوونځى ته تلو او سبق به يې ويلو.

خو کله کله به يې له مور سره د قلم د ورکولو پر سر لانجه کوله. ياشار به زياتره وخت قلم ورکاوه او مور به يې په قهرېدله او ويل به يې: ته دومره فکر نه کوې، پلار دې په څومره سختۍ سره د دې قلمونو روپۍ لاس ته راوړي.

د مېرې خبټه ډېره راوتلې وه. د گاونډ ښځو به ورته ويل: يوه دوه اونۍ وروسته يې د زېږون وخت دى.

مېرې به ځواب ورکاوه: ښايي لا ژر.

د گاونډ ښځو ويل: دا وار انشا الله بچې به دې ژوندې پاتې شي.

مېرې ويل:انشاالله! چې نذرونه او سوالونه وکړم خامخا ژوندى پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یاشار پلار به زیاتره بېکار وو. کار ته به نه تلوو. واوری دومره ډېرې ورېدلی چې سهار به راپاڅېدې لیدلې به دې چې کړکۍ تر نیمایي پورې واورو پټې کړي. سړې یخنی به چنچنې وژلې او د منې د پاڼو په شان به پر ځمکه غورځېدلې.

یوه ورځ سهار پلار ولیده، چې دوه کارغان پر بلی ناست دي. کوتك یې راواخیست وار یې وکړ، دواړه یې ووهل او پر ځمکه وغورځېدل. خو کله چې یې لاس وروړ معلومه شوه چې له سړې یخنی نه وچ شوي دي. اولدوز ډېره خپه شوه. یاشار څو ورځې وروسته د مور له خولې خبر شو. له ځان سره یې وویل:داسې نه چې ښاغلي کارغه پسې راغلي ول!

د یارشار مور به هر سهار راتله له مېرې سره به یې مرسته کوله. لوښې به یې پرېمنځل. کور به یې جارو کاوه. غرمې ته نژدې به خپل کور ته تلله. دیاړي ماره وه. اولدوز ته گرانه وه. بده ښځه نه وه. کله به چې مېره لاړه، اولدوز به کولای شو ورسره څو خبرې وکړي، د یاشار پوښتنه وکړي او ورته سلام ولیږي. نور گاونډیان به هم تلل راتلل، خو اولدوز ته د یاشار مور تر ټولو گرانه وه. سره له دې یې هم هغې ته څه نه ښکاره کول او یوازې یوازې د کارغانو انتظار یې کاوه. باور یې درلود چې هغوی به یوه ورځ راشي.

پلار به د تل په څېر دفتر ته تلو او کور ته به بېرته راستنېدلو. یوه شپه یې مېرې ته وویل: زما زړه بچې غواړي. که دا ځل دې بچی ژوندی پاتې شي او ښه وي، اولدوز بل ځای ته لېږم چې ته په ارامه شې. که دا ځل هم بچی دې مړ پیدا شي، نو اولدوز له ځان لېرې کولای نشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېره هیله منه وه چې بچی به یې ژوندی دنیا ته راشي، ځکه چې پرېمانه نذرونه او سوالونه یې کړي ول. اولدوز له دغه نه زیږېدلي بچي سره کینه کوله. زړه یې غوښتل چې مړ دنیا ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نذر او سوالونه د مړينې مخه نشي نيولای، د کارغه د مور ياد

آخر مېرې ولادت وکړ.

هلك ژوندی و. کوډې او منترې يې وکړې، نذرونه او سوالونه يې وکړل، دعا او تعويذ يې وکړ، د «نظر قرباني» يې وکړه. په قبرونو يې شمعې بلې کړې او څه څه يې وکړل. د څه لپاره؟ د دې لپاره چې هلك مړ نشي. خو د اونۍ په سر کې هلك مرگ ته نژدی شو. ډاکټر يې راووست، وې ويل: د مور په خېټه کې يې ښه وده کړې نه ده. په گرانه به ژوندی پاتې شي: زه څه نشم کولای.

سبا ته هلك مړ شو.

مېره د کمزورۍ او خپگان نه سخته ناروغه شوه. شپه او ورځ به يې ويل: زوي مې «پېريانو» ووړه. لا تر اوسه يې زما نه لاس ندې اخيستې. بل دې هم د کينه ناك سترگې ړندې وي، کينه يې وکړه او زوي يې راته ووژه.

د ياشار مور به ټوله ورځ له مېرې سره وه. ياشار به هم کله کله غرمې ډوډۍ د پاره د مور خواته ورتلو او له اولدوز سره به يې ځو خبرې کولې. د کارغانو پته نه وه. کله کله به يو يو کارغه يوازې له آسمان نه تېرېده او يا به د قاغ قاغ آواز اورېدل کېده او ژر به ورکېده. د چينار پاڼې رژيدلې وې. اولدوز ته به د کارغه مور ورياديدله، چې څنگه به په ورو ځانگو کېناستله. قاغ قاغ به يې کاوه، ځنگېدله به، ناڅاپه به يې وزرې خورولې او تله به.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سخت ژمی تېرېږي

سخت ژمی تېرېده. ډېر سخت وو. ډېر ژر واورې د انګړ په منځ کې انبار شوې، دیوالونو ته پورته شوې. سکاره نه پیدا کېدل. په درې چنده بیه هم نه پیدا کېدل. د یاشار پلار تل وزګار وو. مور یې د کارکولو او جامو پرېمنیځلو دپاره نورو کورونو ته تله. کله به یې باور نه کېدونکې خبرونه راوړل. د ساري په ډول به یې ویل: بېګا یوه غریبه کورنۍ د ساړو نه مړه ده.

یوه ورځ سهار په ژړا راغله او مېرې ته یې وویل: د شپې مې ماشوم د صندلۍ لاندې د ساړو نه وچ شوی او مړ شوی دی.

یاشار ډېر خورېده. د وړې خور د مړینې فکر لېونی کړی وو. اولدوز ته یې وژړل او وې ویل: نژدې وو چې زه هم د ساړو له لاسه وچ شم. زموږ د صندلۍ لاندې سکاره نشته، یخه ده.

اولدوز یې اوښکې پاکې کړې او وې ویل: مه ژاړه یاشاره، که نه نو ما ته هم ژړا راځي.

یاشار ژړا بس کړه او وې ویل: سهار مې پلار مور ته ویل: په دې وران کلي کې هېڅوك نشته چې ووايي ولې دلته سکاره نشته.

اولدوز وویل: پلار دې کار کوي؟

یاشار وویل: نه، په کور کې ناست وي او فکر کوي. کله کله واوره جارو کوي.

اولدوز وویل: ولې نه ځي چې کار پیدا کړي؟

یاشار وویل: وايي چې کار نشته.

اولدوز وویل: ولې کار نشته؟ یاشار څه و نه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پسرلي هوا

واوره کمه شوه، پسرلي ځان ښکاره کړ او اوبه يې روانې کړې. شينکي وټوکېدل، ګلونه ډېر شول. ژمي ډېر له پښو نه غورځولي ول. ډېر هم په ګرانه ژوندي پاتې شوي ول.

د ياشار مور سره صندلۍ لېرې کړه، کړکۍ يې بېرته کړې. د ياشار پلار د نورو لس شلو کسانو سره تهران ته لاړ، چې د خښتو په بټيو کې کار وکړي. په کور کې ياشار او مور يې د نورو کلونو په شان يوازې پاتې شول.

مېره نوې ښه شوې وه. اولدوز ته يې نشو کتلای. اولدوز به زيات وخت د ياشار په کور کې وه. مېرې به هم نور ورته څه نه ويل. پلار له اولدوز سره مينه کوله خو د اولدوز هغه بدې شو. پلار يې ويل: سږکال دې ښوونځی ته ليږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څوك د كارغانو په ژبه پوهېږي؟

د غبرگولي مياشت راورسېده. ياشار په كلني ازموينې كې بوخت وو. يوه ورځ يې اولدوز ته وويل: پرون مې دوه كارغان وليدل چې د ښوونځی پر شاوخوا چورلېدل.

اولدوز له ځايه پورته شوه او وې ويل: ښه، بيا؟

ياشار وويل: بيا ټولگي ته لاړم. د حساب ازموينه مې وه. كله چې راووتلم، ومې كتل نه ول.

اولدوز بېرته په خپل ځای كېناستله. ياشار وويل: مه خپه كېږه. كه زموږ كارغان وي، بېرته راځي.

اولدوز وويل: خبرې دې ورسره وكړې؟

ياشار وويل: وخت نه وو. زه د كارغانو په ژبه نه پوهېږم.

اولدوز وويل: خامخا پوهېږې.

ياشار وويل: ته څه پوهېږې؟

اولدوز وويل: ځكه چې مهربانه يې، ځكه چې پاك زړه لرې، ځكه چې هر څه د ځان لپاره نه غواړې، ځكه چې د مېرې په شان نه يې.

ياشار وويل: دا دې د چا نه زده كړي؟

اولدوز وويل: ټول ښه هلكان د كارغانو په ژبه پوهېږي. د كارغه مور ويل زه خو يې له ځانه نه وايم.

ياشار د دې خبرې نه خوشاله شو. د خوشالې نه يې د اولدوز لاس په دواړو لاسو كلك ونيو او وې ويل: هېڅ نه پوهېږم، چې څنگه مې په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ وکولای شول له «ښاغلي کارغه» سره خبرې وکړم. هېڅ مې په یاد نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کارغانو راستنېدنه

دوه درې ورځې تېرې شوې. دوبی نژدې کېده. هوا تودېدله. د لویانو به د غرمې خوب ته زړه کېده. د غرمې ډوډۍ چې به یې وخوړه، بیده کېدل به. ماشومان به یې هم په زوره بیده کول.

یوه ورځ یاشار وروستني ازموینه تېره کړې وه او کور ته بېرته راتلو. د ښوونځي نه لږ لاندې، یو جومات وو. د جومات مخې ته د توت ونه وه. د توت تر ونې لاندې یې د یاشار نوم تر غوږ شو. غرمه ده، یاشار راستون شو، شاوخوا یې وکتل، څوك یې ونه لید، کوڅه تشه وه. غوښتل یې روان شي چې بیا د شا نه ورته غږ وشو، یاشار!

یاشار راستون شو، ناڅاپه یې پر دوو کارغانو سترګې ولګېدلې چې د توت په ونه کې ناست ول، خندل یې. د یاشار زړه په ټوپونو شروع وکړه. وې ویل: کارغانو، تاسې ما له کومه پېژنئ؟

یو کارغه په خپل نري آواز سره وویل: ښاغلی یاشار، ته د اولدوز ملګری نه یې؟

یاشار وویل: ولې، یم.

بل کارغه په غټ آواز سره وویل: سمه ده چې زموږ مور ته په خپله نه وې لیدلی، خو ستا نښې ورته اولدوز ویلې وې. ډېر وخت وشو چې پر ښوونځیو ګرځو چې تا پیدا کړو. نه مو غوښتل لومړی اولدوز ووینو. زموږ «آنا» سپارښتنه کړې وه. اولدوز څنګه ده؟

یاشار وویل: ویرېږي چې تاسو به هغه هېره کړې وي، ښاغلی کارغه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارغه په غټ آواز ووېل: وبخښه، مورې ځان در ونه پېژانده: زه د هغه «ښاغلي کارغه» ورور یم، چې تاسو سره وو او بیا مړ شو. دا هم زما خور ده. هغې ته «پیغله کارغه» وایي.

پیغلې کارغه ووېل: البته مورې یو بل ورور هم درلود چې د ژمې یخنې وچ کړ، مړ شو. زموږ پلار هم زموږ مور پسې د خپگان له کبله مړ شو.

یاشار ووېل: تاسې دې سلامت ووسئ.

کارغانو ووېل: مننه کوو.

یاشار فکر وکړ او وې ویل: ښه به وي چې دلته و نه غړېږو، زموږ کور ته ځوو، په کور کې څوك نشته.

کارغانو ومنله. یاشار روان شو او کارغان هم د هغه د سر د پاسه الوتل.

هېڅوك نشي ویلای چې یاشار څه حال درلود. ځان یې دومره غټ گاڼه چې څه به وایی. کله به یې آسمان ته کتل، کارغان به یې لیدل، خندل به یې او بیا به روان شو. په پایې کې کور ته راورسېدل. کلي یې د گاونډي نه واخیستله او کور ته ننووت. مور یې غرمه کور ته نه راتله. کارغان راکښتل شول، په پوړیو باندې کېناستل. یاشار ووېل: اولدوز نه غواړې ووینې؟

په دې وخت کې د دیوال له هغې خوا د اولدوز د ژړا غږ پورته شو. درې واړه غلي شول. بیا پیغلې کارغه ووېل: اوس اولدوز نشو لیدلای. بیره نه کوو.

ښاغلي کارغه ووېل: هو لاړ شو د کارغانو ښار ته خبر یوسو. بیا راځو او وینو یې. همدا نن راځو. زموږ سلامونه اولدوز ته ورساوه.

کله چې یاشار یوازې پاتې شو بام ته وخوت. هر څومره چې یې انتظار وویست اولدوز رانه وتله. بېرته راغی. مور یې په یخچال کې ډوډۍ او پنیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اینښودلي ول. ډوډۍ یې وخوړه، بیا بام ته وخوت. هوا توده وه. کمیس یې وویست او پرېووت. غوښتل یې آسمان ته ښه وګوري. آسمان پاك او شین وو. څو مرغۍ د شنه آسمان لاندې الوتلې. داسې چې ته به وایې وزرې نه خوځوي او په سر ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تېښتې قرار، تېښته د بېرته راستنېدو د پاره

د غرمې ډوډۍ دسترخوان خور وو. پلار اولدوز خپل څنګ ته کېنولې وه. د اولدوز سترګې لمدې وې هق هق يې کول. مېرې ويل: زړه يې وهل غواړي. خبره نه مني.

پلار وويل: لورجانې، ته خو اورېدونکې جينې وې، څه خبره ده؟

اولدوز څه و نه ويل: هق هق يې کاوه. مېرې وويل: وايي يوازې خپه کېږم بايد پرېږدی چې لاړه شم له ياشار سره لوبې وکړم.

ناڅاپه اولدوز وويل: هو، زما زړه لوبې غواړي، يوازې خپه کېږم. له ما ويلې تا ويلې نه وروسته، پلار اجازه ورکړه چې اولدوز دې کله کله ياشار خوا ته ځي او ژر دې بېرته راځي. اولدوز ډېره خوشاله شوه. د ډوډۍ خوړلو وروسته پلار او مېره بيده شول. اولدوز پاڅېده د بلې سر ته وختله. زړه يې غوښتل هلته کينې او د کارغانو انتظار وکړي. ناڅاپه يې سترګې په ياشار ولګېدې چې په خواړه خوب بيده وو. لمر تود شوی وو. اولدوز راغله د ياشار سر ته کېناسته د هغه په ويښتانو يې لاس راکښه. ياشار سترګې وغړولې او وې خندل.اولدوز هم وخندل. ياشار راپورته شو او کېناست. کميس يې واغوست او وې ويل: اولدوز، پوهېږی څه خوب مې ليده؟

اولدوز وويل: نه.

ياشار وويل: خوب مې ليده چې د يو بل لاس مو نيولی، د ورېځو د پاسه ناست يو. د پيغلې کارغه واده ته ځو. نور کارغان هم پر موږ پسې راځي.

اولدوز لږه سره غوندې شوه، بيا يې وويل: پيغله کارغه څوک ده؟

ياشار وويل: درته مې نه وو ويلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولدوز وویل: نه

یاشار وویل: کارغان مې ولیدل او خبرې مو هم سره وکړې.

اولدوز وویل: کله؟

یاشار وویل: کله چې له ښوونځي نه راستېندم. د «ښاغلي کارغه » خور او ورور ول. وعده يې کړې چې اوس راشي.

اولدوز وویل: پیغله کارغه زموږ د «ښاغلي کارغه» خور ده؟

یاشار وویل: هو.

اولدوز وویل: د کارغانو د پلار څه خبر دی؟

یاشار وویل: ویل يې چې د میرمنې له غمه مړ شو.

په دې وخت کې دوه کارغان د ونو تر شا راښکاره شول. راتلل راتلل او د بلې شا ته راورسېدل. پر ځمکه کېناستل، سلام يې واچاوه. اولدوز یو یو وینو او ښکل يې کړل. په غېږ کې کېنول. د احوال پوښتنې او آشنایې وروسته ښاغلي کارغه وویل: اولدوز، ټولو کارغانو ویل چې ته باید زموږ خوا ته راشی.

اولدوز وویل: له دې کوره وتښتم؟

ښاغلي کارغه وویل: هو، باید وتښتی زموږ خوا ته راشې، که دلته پاتې شې، خپه کېږې او مرې. موږ پوهېږو، چې مېره دې ډېره ځوروي.

اولدوز وویل: څنگه تېښتدای شم؟ پلار او مېره مې نه پرېږدي.کاکا مې هم له هغه وخته چې سپې يې مړ دی، زموږ په کور کې پښه نده ایښی.

پیغلې کارغه وویل: که ته وغواړئ، کارغان پوهېږي چې تا څنگه یوسي.

یاشار تر دې وخته څه نه وو ویلي. په دې وخت کې يې وویل: یعنې لاړه شي او بېرته رانشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغلې کارغه وویل: دا د دې په خوښه پورې تړلې ده. ته څه فکر کوئ، یاشاره؟

یاشار وویل: ستاسو خبره منم که دلته پاتې شي له لاسه وځي او څه کار هم نشي کولای. خو که د کارغانو ښار ته لاړه شي... زه نه پوهېږم څنګه کېږي؟

ښاغلي کارغه وویل: سبا راځو بیا هم غږېږو. اولدوز، ته هم تر سبا پورې فکر وکړه...

کارغان لاړل. اولدوز وویل: ستا په فکر زه باید لاړه شم؟

یاشار وویل: هو، لاړه شه خو بېرته راشه. لاس راکوئ چې بېرته راځئ؟

اولدوز وویل: لاس درکوم یاشاره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## «انا» د تېښتې لار او طریقه ښيي

سبا غرمه کارغان راغلل. یو بوډا کارغه هم ورسره وو. پیغلې کارغه وویل: دا «انا» ده.

انا د یاشار او اولدوز خوا ته راغله. مخامخ ورته کېناسته او وې ویل: کارغان خوشاله دي چې تاسې مو وموندلې. لور مې ستا ډېر صفتونه کول.

اولدوز وویل: د «کارغه مور» ستا لور ده؟

انا وویل: هو، ښه کارغه وو.

اولدوز اسوېلی وکړ او وې ویل: زموږ له خاطره ووژل شوه.

انا وویل: کارغان یوه دوه نه دي. په مړ کېدو او وژل کېدو نه خلاصېږي.

یاشار وویل: اولدوز غواړي تاسو خواته راشي.

انا وویل: څومره ښه! نو راځئ چې کار شروع کړو.

اولدوز وویل: هر کله چې مو زړه وشو بېرته راتلای شو؟

انا وویل: خامخا باید بېرته راشی. مونږ کارغان نه غواړو چې څوك دې خپل کور، ژوند او دوستان پرېږدي او وتښتي او ځانله هوسا ژوند وکړي او د نورو د حال نه خبر نه وي.

اولدوز وویل: ما له ځان سره څنګه بیوئ؟

انا وویل: د هر څه نه مخکې یو کلك جال په کار دی. دا باید تاسې په خپله واوبدې.

اولدوز وویل: جال زموږ څه پکارېږي؟

انا وویل: لومړی فایده یې دا ده چې د کارغانو باور راشي چې تاسې لټ او بېکاره نه یاست. او چمتو یې چې د ځان د نېکمرغۍ لپاره زیار وباسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه ګټه یې دا ده، چې تاسې د هغه منځ کې کزنې او کارغان یې پورته کوي او خپل ښار ته یې وړي...

یاشار د خبرې منځ کې راودانګل او وې ویل: وبخښه انا موږ تار او وړی له کومه کړو، چې جال ترې واوبدو؟

انا وویل: کارغان تل حاضر دي د ښو او کارکوونکو انسانانو خدمت وکړي. موږ درته وړی راوړو او تاسې دواړه به جال واوبدی.

څو غټې ډبرې پر بام وې. مېرې هغه د سرکې د خُم نه چاپېر کړې وې.

انا وویل: موږ وړی راوړو او د دې په منځ کې یې راجمعوو.

اخو دېخوا یې نورې خبرې هم وکړې، بیا کارغان لاړل.

اولدوز وویل: یاشاره! زه بالکل نه پوهېږم چې څنګه سپنسی وربشم او جال واوبدم.

یاشار وویل: زه پوهېږم د پلار نه مې زده کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کارغان کوښښ کوي، ماشومان سخت زيار باسي، کارونه پر مخ ځي

د ياشار ښوونځی رخصت شو. اوس يې د فارسي ليك لوست بد نه وو. د پلار ليکونه يې لوستلاې او مانا کولاې شول او مور ته يې ويلاې شول. کتاب يې هم لوستلای شو. مور يې بيا کالو پرېمنځلو ته تلله. پلار يې د تهران د خښتو د پخولو په بټيو کې کار کاوه. ډېر کارغان به د دوی کور ته تلل راتلل. مېرې به کله آسمان ته کتل او د کارغانو نه به ډارېدله. اولدوز به ځان نانګاره کړ. مېره به نا آرامه کېده او کله به يې له ځان سره ويل: نه چې دا انجلۍ له کارغانو سره تار ولري؟ خو په ظاهر کې آرامه او مظلومه ده.

اولدوز خپل ځان نانګاره اچولی و.

د سپنسيو د رېشلو کار د ياشار په کور کې پر مخ تلو. ياشار به ولاړ او د لويو سړو په شان به يې پر دوك باندې سپنسې رېشلې. اولدوز به تارونه پر لاسو تاوول او پېړ تارونه به يې جوړول. په انګړ کې يوه وړوکې کوټه ګې وه چې تشه وه، طنابونه به يې هلته پټول.

انا به کله کله سر ورښکاره کاوه او د کار د حال پوښتنه به يې کوله. ياشار به رېسلي تارونه ورښودل. انا به خندل او ويل به يې: شاباس ښو ماشومانو، شاه باس! داسې نه چې څوك پوه شي چې پټ کار کوئ! سترګې او غوږونه مو خلاص کړې.

ياشار او اولدوز به ويل: زړه دې ډاډه وي انا، سمه ده چې زموږ عمر کم دی، خو عقل مو ډېر دی. دومره پوهېږو، چې سړی نبايد هر يو کار ښکاره وکړي. ځينې کارونه ښکاره کوي، ځينې کارونه په پټه. انا به خپله کږه مښوکه پر ځمکه راکښله او ويل به يې: تاسې مې خوښېږې. د مور او پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مو ډېر فرق لرئ. شاه باس! شاه باس! خو لا تر اوسه واړه یاست او پاخه شوي نه یې، باید ډېر څه زده کړئ او له دې ښه فکر وکړئ.

کله به هم پیغله کارغه او ورور یې راتلل. له دوې سره به کیناستل او خبرې به یې کولې. د خپل ښار خبرې به یې کولې، د چینار له ونو نه به غرېدل او د وریځو، بادونو، غرونو، دښتو او بېدیاو او د ډنډونو صفتونه به یې کول. اولدوز او یاشار له نورو پنځوس شپیته کارغانو سره هم آشنا شول. پیغلې کارغه ویل: د کارغانو په ښار کې د یو میلیون نه زیات کارغان ژوند کوي. دې خبرو به ماشومان خوشالول. یو میلیون کارغان یو ځای ژوند کوي او هېڅ دعوا او جنجال نه کوي، څومره ښه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اولدوز د سفر ملګری

یوه ورځ یاشار او اولدوز تار ړېشلو. اولدوز سر پورته کړ. ویې لیده چې یاشار غلی او بېحرکته ولاړ دی او دې ته ګوري. وې ویل: ولې راته داسې ګورې، یاشاره، څه شوي دي؟

یاشار وویل: فکر مې کاوه.

اولدوز وویل: څه فکر؟

یاشار وویل: هسې.

اولدوز وویل: باید ما ته یې ووایې.

یاشار وویل: ښه، وایم یې. فکر مې کاوه که ته له دې ځایه لاړه شې، زه ځانله خپه کېږم.

اولدوز وویل: ما هم پرون فکر کاوه چې کاشکې دواړو سفر کړی وای. یوازې سفر کول زیات خوند نلري.

یاشار وویل: نو ته غواړې چې زه هم له تا سره لاړ شم؟

اولدوز وویل: زه د زړه له کومې غواړم. باید انا ته یې ووایو.

یاشار وویل: زه یې په خپله ورته وایم.

بله ورځ انا راغله. یاشار وویل: انا، زه هم کولای شم له اولدوز سره تاسو خوا ته درشم؟

انا وویل: کولای شې راشې، خو زړه دې پر مور نه سوزېږي؟ هغه خو بده ښځه نده، چې پرېږدې یې او وتښتې!

یاشار وویل: د دې کار فکر مې کړی دی، د حرکت نه یوه ورځ مخکې یې ورته وایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا  وويل: که يې ومني، پروا نه لري، تا هم بيايو.
اولدوز او ياشار پر شوق راغلل او په تندي يې کار کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کبانو غله، د وړیو غله، بې اغېزه دعاګانې

یاشار په امتحان کې کامیاب شو. هغه ورځ چې اطلاعنامه کور ته راوړه، پلار ته یې هم لیك ولیکه. اولدوز او یاشار به زیاتره یوځای ول. مېرې به لږه ځوروله. ربښتیا دا چې غوښتل یې اولدوز یې د سترګو نه لېرې وي. د دې نه علاوه تل د کارغانو په اندېښنه کې وه. کارغان به ډېر تلل راتلل او هغه به یې اندېښمنوله، ډارېدله چې آخر به بلا ورباندې وغورځېږي. پلار هم ناکرار وو، په تېره بیا چې هغه ورځ ډنډ ته ورغی ویې لیدل کبان نشته؛ دوه کبان پیغلې کارغه او ورور یې خوړلي ول. یو یې انا او پاتې نورو کارغانو خوړلي ول. پلار او مېرې به هر چېرته کارغه ولید کنځلې به یې ورته کولې او په ډېرو به یې ویشته.

یوه ورځ بابا وڅکې اخیستلې او راوړې وې چې مېره ترې سرکه جوړه کړي. مېرې څُم واخیست او بام ته یې یووړ. ډېرې یې اخوادېخوا کړې، ناڅاپه یوه زیات اندازه وړی پیدا شوې. وړی یې راواخیستلی او مېړه ته یې راوړې او وې ویل: ګورئ؟ پېریانو زموږ نه لا لاس ندې اخیستی اوس هم راپسې دي. دا چا د ډېرو په منځ کې راټولې کړي دي؟

پلار وویل: باید مخه یې ونیول شي.

مېرې وویل: سبا دعالیکونکي پسې ځم. ښه دعا ترې اخلم چې پېریان وډار شي او وتښتي.

سبا اولدوز یاشار ولید. د دوې خبرې یې ورته وکړې، یاشار وخندل او ویې ویل: باید وړی پټې کړو، که نه نو کار مو څو ورځې ځنډېږي. اولدوز وړی پټې کړې او د سپي تشې کوډلی کې یې کېښودلې. یاشار ولیدلی چې وړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کافي اندازه راټولې شوي دي. کارغانو ته یې خبر ورکړ چې نورې وړې رانه وړي .

مېږه لاړ دعا لیکونکي پسې او ښه دعا یې راوړه. خو کله چې یې ولید وړې یې وړي دي، وارخطایي لا هم ډېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یاشار له موره اجازه اخلي

**په ژبه پوهېدونکي سپي کیسه**

ماشومانو، له هغې ورځې وروسته، د جال په اوبدلو پیل وکړ. لومړی یې پېړ طنابونه جوړ کړل، بیا یې غوټې کړل.

د یاشار مور د جامو اوږد طناب درلود. دغه طناب څو ټوټې سیم و، چې یو بل سره تاو شوی و. یاشار غوښتل د مور څخه د جامو طناب واخلي او د طنابونو منځ کې یې کېږدي، چې جال مضبوط شي.

یوه شپه سرماښام یې مور ته وویل: مورې، که زه څو ورځې په سفر لاړ شم ډېره خپه کېږې؟

مور یې فکر وکړ چې یاشار ټوکې کوي.

یاشار بیا پوښتنه وکړه: مورې، اجازه راکوې زه څو ورځې په سفر ولاړ شم؟ قول در سره کوم ژر بېرته راځم.

مور یې وویل: لومړې باید ووایې چې پیسې له کومه کړو؟

یاشار وویل: پیسې په کار ندي.

مور یې وویل: ښه له چا سره ځې؟

یاشار وویل: اوس یې نشم ویلی. د تګ په وخت کې به پوه شې.

مور یې وویل: ښه، چېرته ځې؟

یاشار وویل: دا درته هم د تګ په وخت کې وایم.

مور یې وویل: نو زه هم د تګ په وخت کې اجازه درکوم.

مور فکر کاوه چې یاشار په رښتیا ټوکې کوي او غواړي هغه د څو کاله مخکې خوشې خبرې وکړي. هغه وخت چې یاشار وړوکی او د لومړي ټولګي زده کوونکی وو، کله کله به یې دغه شان خوشې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولې. د سارې په توګه ویل به یې: غواړم آسمان ته لاړ شم، څو کوچنې ستوري راټول کړم او رایې وړم د کمیس ټنې ترې جوړې کړم.

خو نه پوهېده چې د دغو «وړو ستورو» هر یو یې په میلیونو میلیونو واره د ده نه غټ دي او ځینې نور یې په زرهاو کرته د اور نه هم تاوده دي.

یوه ورځ یې تور کوڅه ډب سپی په راکښلو راکښلو کور ته راوړی وو. د غرمې د ډوډۍ وخت زه او یاشار د ښوونځي نه کور ته راتلو. پلار او مور یې وویل: زویه، دغه ناولی حیوان دې ولې کورته راوستی دی؟

یاشار په غرور سره وویل:داسې مه وایی. دا سپی په ژبه پوهېږي. ډېر وخت مې زیار ګاللی او ژبه مې ورزده کړی ده. اوس هر څه چې ورته ووایم اطاعت کوي.

پلار یې په خندا خندا وویل: که ربنتیا وایی، ورته ووایه لاړ شه او دوه تودې ډوډۍ واخله او رایې وړه. دا یې هم پیسې.

یاشار وویل: لومړی باید ډوډۍ وخوري او بیا...

مور یو څه وچه ډوډۍ سپي ته واچوله، سپي وخوړله او لکۍ یې وښوروله.

یاشار سپي ته وویل: پوهېږم ملګری، چې څه وایی.

پلار یې وویل: ښه، یاشاره، څه وایی؟

یاشار وویل: وایي «یاشار جانه، یو شی مې په غاښونو کې نښتی دی، هیله کوم خوله مې بېرته کړه او هغه راوباسه."

مور او پلار په حیرانۍ سره کتل، یاشار په کراره د سپي خوله بېرته کړه او لاس یې وردننه کړ چې د سپي غاښونه پاك کړي. ناڅاپه سپي لاس او پښه ووهله او غپ یې کړ او د یاشار د ژړا آواز پورته شو. پلار سپی وواهه او بهر ته یې وشاړه. د یاشار لاس څو ځای زخمی شوی وو او «وای وای» کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ورځ یاشار مور ته وویل: د تګ په وخت کې خامخا اجازه راکوئ؟

مور یې وویل: هو.

یاشار وویل: وي دي... د جامو سیمي طناب دې هم راکوئ، مورې؟

مور یې وویل: څه وربانديې کوی؟ بیا څه چل کوی، زویه؟

یاشار وویل: د سفر لپاره مې په کار دی. چل مل نه کوم.

مور یې حیرانه پاتې ده. نه پوهېده د زوي مقصد یې څه دی. پای کې راضي شوه، چې د جامو طناب دې د یاشار وي. کله چې بیده کېدل، یاشار وویل: مورې؟

مور وویل: ها، وایه!

یاشار وویل: قول راسره کوې چې دا خبرې به چا ته نه وایې؟

مور وویل: زړه دې جمع وي، چاته یې نه وایم. خو ته پوهېږې که پلار دې دلته وای، ستا په دې خبرو پورې به یې خندلای؟

یاشار څه ونه ویل. په انګړ کې پراته ول او د ستور تماشا ډېر خوندوره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حرکت ورځ

کار په چټکۍ سره پر مخ تلو. د یاشار مور به زیاتره ورځې د غرمې هم کور ته نه راتله. اولدوز او یاشار لپاره د کار کولو فرصت ډېر وو. د کارغانو تګ راتګ کم شوی وو. مېرې ډېر ځار کاوه. انا ویل: ښه ده لږ تګ راتګ وکړو. که نه نو مېره پوهېږي او کارونه خرابېږي.

د غبرګولی میاشتې وروستۍ ورځې وې چې جال تیار شو. انا راغله، هغه یې وکوت او خوښ یې کړ او وې ویل: هغه ټول زیار چې مو وباسلو اوس یې وخت دی چې ګټه یې واخلی.

یاشار او اولدوز وویل: کله حرکت کوو؟

انا وویل: که خوښه مو وي، سبا غرمه.

اولدوز او یاشار وویل: هر څومره چې ژر شي ښه ده.

انا وویل: نو، سبا غرمه منتظر اوسئ. کله چې مو واورېدل چې دوه کارغانو دری وارې قاغ قاغ وکړ، جال راواخلئ او بام ته راوخېژئ. د اولدوز او یاشار زړونو ټوپونه وهل، غوښتل یې راپاڅېږي او ونځېږي. لږ چې له دې او هغه ځای وغږېدل انا والوتله او د چینار په ونه کې کېناسته چې څو کوره اخوا وه، قاغ قاغ یې وکړ، وښورېده، پاڅېده او لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغوی چې له زړونو خبر نه دي، وايي: اولدوز لېونې شوې ده**

شپه شوه. سرې ماښام اولدوز له ځان سره خندېدله. مېرې ویل: انجلۍ لېونې شوې.

پلار پوښتنه کوله: لورې، ولې خاندې؟ زه خو د خندا څه نه وینم.

اولدوز ویل: د خوشالۍ نه خاندم.

مېره به قهر شوه.

پلار ویل: له کومې خوشالې؟

اولدوز ویل: ای، همداسې خوشاله یم، څه نشته.

مېرې ویل: پرېږده یې، لېونې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښه او مهربانه مور

د بیدېدلو وخت وو. یاشار مور ته وویل: مورې، کېدای شي سبا غرمه په کور کې اوسی؟
مور یې وویل: زما سره دې څه کار وو؟
یاشار وویل: هو، غرمه یې درته وایم. زما د سفر په هکله.
مور یې وویل: ډېر ښه، غرمه کور ته راځم.
مور یې د زوي په کار سر نه خلاصېده. په رښتیا چې د سفر خبره یې هم هېره شوی وه او بیا ورپه یاد شوه. خو پوهېده چې یاشار ښه هلك دی او بدکار به ونه کړي. هغه ورته ډېر گران وو. د ورځې چې به کالو پرېمنځلو ته تله، فکر به یې له یاشار سره وو. کله به په خپله وړې پاتې شوه، خو د ده دپاره به یې جامې او قلم او کاغذ رانیول. ښه او مهربانه مور وه. یاشار به هم د هر کوچني کار دپاره هغې ته څه نه ویل او نه به یې په عذابوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حرکت

## اولدوز په زندان کې

سبا شو. څو ساعته وروسته د حرکت وخت راورسېده. وخت ډېر ورو تېرېده. یاشار په کور کې یوازې وو. ډېر ناکراره او ناآرامه وو. په انګړ کې اخوادېخوا تلو راتلو او فکر یې له اولدوز او مور سره وو. څو وار یې د انګړ په منځ کې جال خپور کړ او وربانديې کېناست. بیا یې راټول کړ او پر خپل ځای کې یې کېښود.

غرمه یې مور راغله. انګور او ډوډۍ او پنېر یې راوړي ول. ډوډۍ یې وخوړه. یاشار، اولدوز ته اندېښنه درلوده. مور یې منتظر وه، چې زوي یې څه ووايي. دواړو څه نه ویل. یاشار فکر کاوه: که اولدوز ونه کړاې شي راشي څه به وشي؟ نقشه به ورانه شي. که مېره مې په لاس راشي، پوهېږم څه ورسره وکړم. د ویښتانو نه یې رانیسم. پلیتې! ولې نه پرېږدې چې اولدوز زما خوا ته راشي؟ اوس که د کارغانو غږ جګ شي، څه وکړم؟ تر اوسه اولدوز نده راغلې. زړه مې د ګوګل نه وځي....

د اوبو راوړل یې بهانه کړل او انګړ منځ ته راغی. د مېرې او د پلار غږ د دیوال تر شا نه راتلو. مېرې اوبه وراچولې او پلار لاسونه پرېمنځل. ښکارېده چې پلار اوس کور ته راغلی دی. مېرې ویل: نه پوهېږی چې لور دې څه بلا راباندې راوستې ده، آخر مجبوره شوم په پخلنځي کې یې بندي کړم...

په دې وخت کې دوه کارغان د چینار په ونه کې کېناستل. یاشار چې هغوی ولیدل، زړه یې وغورځېده. اوس د اولدوز سره څه وکړي؟ مور ورپسې ولېږي؟ داسې نه چې په رښتیا مېرې بندي کړې وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارغان راوالوتل او د یاشار سرته راورسېدل، هغه ته یې وخندل او د توت په ونه کېناستل او ناڅاپه دوو کارغانو په قاغ قاغ شروع وکړه:

- قاغ!..... قاغ!.... قاغ!....... قاغ!..... قاغ!...... قاغ!.....

د کارغانو آواز له یوې خوا د جګړې د نغارې د غږ په شان وو: هم یې ډار درلود هم یې خوځښت او ټکان. یاشار یوه شېبه لاس او پښې ورکې کړې. وروسته په خود راغی او په کراره کوډګې خوا ته لاړ. جال یې راواخیست او په منډه بام ته وخوت. مېره او پلار نئوتلي ول. کارغان راغلل د یاشار خوا ته کېناستل او سترې مه شي یې وکړې.

یاشار جال خپور کړ. لا تر اوسه اولدوز نه وه راغلې. نیمه دقیقه تېره شوه، یاشار لېرې وکتل، کینې خوا ته لېرې په دښتو کې لویه تررمه راروانه وه اومخې ته راتله.

یو کارغه وویل: راروان دي، ولې اولدوز نه راځي؟

یاشار وویل: نه پوهېږم شاید مېرې یې بندې کړي وي.

تررمه رانژدې شوه. د قاغ قاغ آواز غلی راتلو. اولدوز بیا هم رانغله. کارغان راورسېدل. د زرهاوو کارغانو د قاغ قاغ شور ځمکه او آسمان نیولي وو. ټول ورونه او دیوالونه د تورو کارغانو نه ډك شول. د توت په ونه کې هېڅ ځای خالي پاتې نه شو. خلك د کورونو نه راوتلي ول. ټول ډار نیولي ول.

د یاشار مور دیګ پر سر ایښی وو او د انګړ منځ کې ولاړه وه او نارې وهلی: یاشار چېرته لاړی؟.... اوس دې سترګې راوباسي!.....

یاشار چې د مور آواز واورېد، بلی ته راغی او وې ویل: مورې، مه ډارېږه! دا زما ملګري دي. که زه درته ګران یم، لاړه شه اولدوز راولېږه د بلی سر ته. مورې، هیله کوم! مورې لاړه شه!... مور دواړه باید سفر وکړو....

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور يې زوی ته حيران حيران کتل او څه يې نه ويل. ياشار بيا زاري وکړه: مورې، لاړه شه!.... هيله کوم... کارغان زما ملګري دي... ورڅخه مه ډارېږه!

ياشار نه پوهېده څه وکړي. لږ پاتې وو چې په ژړا شي. انا مخې ته راغله او وې ويل: ته لاړ شه په جال کې کېنه، زه د څو کارغانو سره اولدوز پسې ځم، وګورم چېرته ده.

د کارغانو نارو ډېر کسان د انګړ منځ ته رايستلي ول. هر چا يو شی پر سربانډې ايښی وو او په وېره وېره يې آسمان ته کتل. ځينې خلك له ډاره په کوټو کې پاتې شوي ول.

بوډۍ ګانو نارې وهلې: بلا نازل شوې! لاړ شی دعا وکړئ. لمونځ وکړئ، سوالونه او نذرونه وکړئ!

ناڅاپه پلار ډانګی په لاس انګړ ته راغی. مېره هم ورپسې راووتله. دواړو ديګې پر سر نيولي ول. انا وويل: کارغانو! د دې سړي او ښځې لاس او پښې وتړې، پرېښږدي وخوځېږي.

کارغان ورباندې راټول شول، ديګونو شور کاوه مېره او پلار يې ډارول. انا د څو کارغانو سره ورننوتله. د اولدوز آواز د پخلنځي نه راتلو. د پخلنځي ور کلپ وو. اولدوز په چاړه وهلو سره غوښتل چې ور سوری کړي. يو وړوکی سوری يې هم کړی وو. په دې وخت کې د ياشار مور راورسېده. کارغانو ورته لار پرېښوده. مور په ډېره کلپ وواهه او قلف مات شو. اولدوز راووتله. مور هغه په غېږ کې ونيوله او ښکل يې کړه. اولدوز وويل: مورې، زموږ انديښنه مه کوه، ژر راستنېږو. مېرې ته هم مه وايه چې زه تا راوويستلم. ځوروي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یاشار مور ژړل. اولدوز منډه کړه، د چرګانو د کوډګی نه یې یوه کڅوړه راوویستله او د بلۍ سر ته وختله. کارغان ورنه چاپېر ول. کله چې د یاشار خوا ته ورسېده، ځان یې ورباندې وغورځاوه، یاشار ورته غبږ خلاصه کړه او په سینې پورې یې ټینګه کړه او له خوشالۍ یې وژړل.

انا د یاشار د مور نه مننه وکړه، بام ته وختله او په لوړ آواز یې وویل: کارغانو، حرکت وکړئ!

ناڅاپه کارغان پر حرکت راغلل او په مښوکو او پنجو یې جال ونیو او پورته یې کړ. یاشار د جال پر څنډو پورې مزي تړلي ول. کارغانو هغه سره نیولي ول. یاشار د پاسه غږ کړ: مورې، مور لاړو. پلار ته مې سلام ورساوه، ژر بېرته راځو، مه خپه کېږه!

کارغانو مېره او پلار پر خپل حال پرېښودل او روان شول، هغه دواړه په انګړ کې ولاړ ول او چیغې وهلې. لرګې او ډبرې یې ویشتلې، جامې یې څیرې څیرې شوې وې او څو ځایه زخمي شوي هم ول.

بالاخره د ښار نه لېرې وتل.

په زرهاوو کارغان د ماشومانو شاوخوا نه راټول شول. یوازې سر د پاسه یې خالی وو. اولدوز ورېځو ته کتل او له ځان سره یې وویل: څومره ښکلی!

کارغانو شور کاوه او تلل.

تلل د کارغانو ښار ته.

تلل هغه ځای ته چې د «پلار« د کور نه ښه وو.

تلل هغه ځای ته چې «مېره» هلته نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شهیدو او ناکامو ملګرو په یاد، چوشکونه لېرې وغورځوئ!

انا، پېغله کارغه او ښاغلی کارغه راغلل او له ماشومانو سره کېناستل چې څو خبرې ورسره وکړي او بیا لاړ شي د نورو په شان کار وکړي.
اولدوز خپله کڅوړه خلاصه کړه او یو کمیس یې راوویست او یاشار ته یې وویل: دا د پلار دی، ستا دپاره مې راوړ. بیا به یې اغوندې.
یاشار مننه وکړه.
په کڅوړه کې یوه اندازه ډوډۍ او پنېر هم ول. اولدوز د کارغه څو بڼکې له جیبه راوویستلې او انا ته یې ورکړې او وې ویل: انا، د «ښاغلي کارغه» بڼکې دي. د یادګار په توګه مې ساتلې وې چې تا ته یې درکړم. زه او یاشار به «ښاغلی کارغه» او مور یې هېڅکله هېر نکړو. هغوی زموږ په خاطر ووژل شول.
انا بڼکې واخیستلې، هوا ته پورته شوه او په داسې حال کې چې د ماشومانو او کارغانو پر سر الوتله، په لوړ آواز یې وویل: ستاسو په اجازه غواړم دوه ټکي خبرې وکړم.
کارغان غلي شول. انا یو چوشك د وزر له لاندې نه راوویست او وې ویل: ګرانو دوستانو! ښو کارغانو! همدا اوس اولدوز ما ته د «ښاغلي کارغه» څو بڼکې راکړې. موږ هغه ساتو. د دې دپاره چې د یوې مهربانې او فداکارې مور او زوي نښه ده. دا بڼکې به موږ ته وښیئي چې موږ هم زړه ور او ښه کارغان اوسو.
اولدوز او یاشار هورا وویل.
کارغانو په زوره زوره قاغ قاغ کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انا خپلې خبرې ته ادامه ورکړه: خو دا «چوشك« لېرې غورځوم. د دې پاره چې مېرې د اولدوز دپاره رانیولی وو، چې تل هغه وزبېښي او مجال ونلري چې خبرې وکړي او له چا سره د زړه خواله وکړي.

اولدوز خپل چوشك وپېژاند. هاغه چې «ښاغلي کارغه» ته یې ورکړی وو.

انا چوشك کښته راغوځار کړ، کارغانو شور جوړ کړ. انا وویل: مېرې «ښاغلی کارغه» ووژلو. «ښاغلی کارغه» یې نامرداه کړ. خو یاشار او اولدوز هغوی هېر نکړل. نو ژوندی دې وي هغه ماشومان چې هېڅکله خپل نامراده او شهید ملګري نه هېروي!

کارغانو په زوره زوره قاغ قاغ کړې. اولدوز او یاشار لاسونه وتړل او هورا یې وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هاغه غرونو پر سر، د کارغانو ښار، غرمېشته کارغان

له لېرې نه لوړ غرونه ښکاره شول. انا راکښته شوه او وې ویل: د هاغه غرونو پر سر، د کارغانو ښار دی. تعجب ونه کړی، چې موږ ولې راغلي یو او د غره پر سر مو کورونه جوړ کړي دي. کارغان ډول ډول دي.

پای

د ۱۳۴۴ کال – منی

## د ملگرو لیك

دا هم د هغو ماشومانو د مینې ډك لیك دی، چې د «اولدوز او کارغانو» کیسه یې د چاپ نه وړاندې اورېدلې ده. او وې نه غوښتل چې غلي پاتې شي. لیك د دغو ماشومانو د ښوونکي په لاس ماته رارسېدلی دی.

د اولدوز ملگرو ته سلام وایو. هر څوك چې موږ ته د اولدوز خبر راوړي زېری ورکوو. موږ د کارغانو، یاشار او اولدوز په اړه اندېښنه لرو. زموږ سره صابون ډېر دی. غواړو هغه اولدوز ته ورکړو. موږ د پسرلي په انتظار یو. نور به کارغان نه ځوروو. موږ غواړو مینډې د کارغه د مور په شان وي. د کارغه مور، مور ده. پر موږ گرانه ده. د کارغه مور پر مېړه گرانه ده. موږ غواړو زموږ مینډې زموږ پر پلرونو گرانې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ فکر کوو «ښاغلی کارغه»، اولدوز او یاشار تللي دي، چې دعوا وکړي. دعوا وکړي له پلرونو او مېرو سره. موږ به یاشار ته غشي او لیندۍ جوړې کړو. د کارغانو ځالې نه ورانوو، څو ښاغلی کارغه ورباندې کېني. کله چې پلار راشي، مېره راشي، اولدوز راخبر کړي. موږ به اولدوز ته بوټان او جامې ورکړو. کبان به غلا کړو. غنمې به راغونډې کړو. ښاغلی کارغه به زېری راوړي. په جګړه کې به بریالی شي.

یاشار به د اولدوز لاس ونیسي، رابه شي. اولدوز به ښه مور شي او یاشار به ښه پلار شي. موږ به د دوی په واده کې نڅا وکړو. موږ په اندېښنه کې یو. ټولو ته په اندېښنه کې یو. غواړو د دوې مرستې ته ورشو. غواړو دوی ژر د کارغانو له ښار نه راستانه شي.

## د اولدوز، یاشار او د کارغانو ملګري

(د آذرشهر، د امیر کبیر د دولتي ښوونځي د شپږم ټولګي د ۲۸ زده کوونکو نوم او لاسلیك – ۴۴\۱۱\۱۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړګیه، مه ماشومه کېږه، ګناه څه ته وایي؟ ګناه خو دا ده چې غلا ونه کړم او زه او اولاد مې له ولږې مړه شوو. زړګیه ګناه خو دا ده چې ګېډه مړه نه کړم. ګناه دا ده چې صابون د پښو لاندې پروت وي او زه وږې پاتې شم. زما دومره عمر شوی دی، چې په دې خبرو پوه شم. په دې هم ته پوه شه، چې په دې تشو نصیحتونو د غلا مخه نیول کېدای نشي او تر هغه چې هر څوک د ځان دپاره کار کوي، غلا به هم وي.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library